
رابندرناته ټیګور
په تیارۀ کې
ناول
ژباړن : نصرت الهام


رابندرناته ټیګور
په تیارۀ کې
ناول
ژباړن : نصرت الهام

# په تیاره کې

(نــا ول)

لیکوال:رابندرناتهـ ټیګور
ژباړن:نصرت الهام

# بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب ځانګړنې:

کتاب :: په تیاره کې

لیکوال :: رابندر ناتهـ ټیګور

ژباړن :: نصرت الهام

خپرندوی :: ګودر خپرندویه ټولنه

چاپ کال :: ۱۳۸۸ لمریز

چاپشمېر :: ۲۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ :: (۲۶)

پته: ګودر کتاب پلورنځی، لانډیني پوړ، اسحق زي مارکیټ، بزازي څلورلارې، جلال کوټ، ګرځنده شمېره ۰۷۰۷۱۲۸۱۸۲

meenagoodar@gmail.com

د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي.

# ډالۍ

**د هغو ځوانانو په نوم، چې د غلطو تګلارو قرباني شوي او قرباني کېږي.**

الهام

# ۱

دلته هم نیمه شپه او تر کوم ځایه چې نظر کار کوي نیمه شپه او تپه تیاره، د ګرمۍ موسم، خاموشي خوره ده او هوا داسې ورکه ده چې د ونو یوه پاڼه هم رپ نه وهي، د( یشوهر ) دعلیحضرت پاچا ( پرتاب دت ) مشرزوی ( شهزاده ولي عهد ادیادت ) په خپل خوب ځای کې د کړکۍ ترڅنګ ویښ ناست دی، په څېره یې د فکرونو وریځ خوره ده او له سترګو یې نهیلي ورېږي، ورسره خواکې یې ښځه ( سرما) ناسته ده، د سرما تږی نظر د شهزاده ادیادت په لور وګرځېد، په ورو یې وویل: ته ولې خواشینی کېږې، د صبر نه کار واخله، کله خو به زمونږ وخت هم راشي، مه خپه کېږه --- د غم له وریځو وروسته د خوښۍ لمر راخېژي.

شهزاده ادیادت په نهیلي انداز زیاته کړه: سرما! زه هېڅ نه غواړم، خو کاشکې زه په شاهي ماڼۍ کې نه وای پیدا شوی، کاشکې زه د یو پاچا زوی او ولي عهد نه وای، کاشکې زه د (یشوهر) د تخت و تاج، مال دولت، عزت، ارام، راحت او ددې ټول جوش او دبدبې وارث نه وی او

په يوه غريبه کورنۍ کې پيدا وی، هغه وخت به زه تر ټولو زيات خوښ او په راحت کې وی، داسې کوم دم درود به نه وي چې زما دغه هيله او ارمان راپوره کړي.

(سرما) ټوله همدردي وګرځېده، د (اديادت) ښی لاس يې په خپلو لاسونو کې زور کړ، د هغه مخ ته يې وکتل او په کرار، کرار يې ساه واخيستله، هغې د خپل خاوند دهرې هيلې د پوره کولو لپاره خپل ځان هم بايللی شو، خو د اديادت دغه غوښتنه د هغې دځان په ورکړې هم نه پوره کېده.

شهزاده اديادت بيا خبرې پيل کړې: دا خو پرېږده چې زه د پاچا په کور کې پيدا شوی يم او هېڅ رنګ ارام مې ندی په نصيب شوی، ددې محل خلک دا ګمان کوي چې زه دې دنيا ته ديو وارث په حيث راغلی يم، نه د اولاد په حيث، دوی فکر کوي چې په ماکې هغه څه نشته چې ديو شاهزاده سره ښايي، پاچا له ماشومتوبه زما سخته څارنه کوي، هغه تل په دې شک کې دی چې زه به و نشم کولای د خپلې کورنۍ شان، شوکت، عزت او دبدبه وساتم، پاچا زما هرکار، هرحرکت او ټول کړه وړه د ازمېښت په سترګو څاري، په دې کتلو او څارلو کې ما هېڅ وخت د پلارنۍ عاطفې او مينې کومه نښه قدرې هم نده ليدلې، زمونږ ټول دوستان عزيزان، وزيران، د زرو خاوندان او رعيت ټول پدې يوه خوله دي چې زه د هېواد ساتنه نه شم کولی، هغوی زما کارونه څاري او دا وړاندوينه کوي، چې زه د حکومت چارې پر مخ نشم وړلای، ددوی په خيال زه د ښه او بد توپير هم نشم کولای او اوس خو لا د سپکاوي په نظر هم راته ګوري، د پاچا په ما اعتماد

نشته، هغه ما نه نهيلی دی، اوس خو نو هغه کله په هېره هم زما يادونه نه کوي او زما د پوښتنې اوس هيڅوک نه دي پاتې.

د (سرما) سترګې له اوښکو ډکې شوې، مړه يې ور وکتل او ويې ويل: اُف! دا ټول څوک کله زغملی شي.

لکه مار تاوه شوه له ټنډې يې غوسه وورېده او ويې ويل: تا ته چې څوک په سپکه ګوري هغوی ټول ليوني دي، ليوني!!!.

د اديادت شونډې مسکۍ شوې، د سرما په اوږه يې لاس کېښود، د هغې له غوسې نه ډکه څېره يې پورته کړه او ويې ويل: نه سرما! دا يو حقيقت هم دی، رښتيا هم چې زه د حکومت چارې نشم سمبالولی او دا څو ځل ازمويل شوې خبره ده، زه لا شپاړس کلن وم چې پاچا د ولايت بوج زما په اوږو راواچاوه، خو زما نازکې اوږې ددغې بوج له پورته کولو عاجزې شوې او لا شپږ مياشتې هم نه وې پوره چې زما د مسوليت په سيمه کې حالات خراب شول.

پيسې چې څومره پکار وې هغه هم وې، عوام هم خوښ ول، هرځای زما ستاينه کېدله، خلکو خو راته دُعا ګانې کولې، خو د پاچا چاپلوس نوکر زما په خلاف زهر وپاشل، هغه د پاچا غوږونه زما په خلاف له خبرو وپړسول، هماغه و چې بيا ټولو فيصله وکړه که چېرې ولي عهد د رعيت دومره طرفداري وکړي، نشي کولای چې د حکومت چارې سمې پر مخ بوځي، ددې خبرې په اورېدو سره د پاچا نفرت لا زيات شو، اوس نو ماته راګوري هم نه، هغه داسې فکر کوي چې زه به دده په وينا د (رای ګړهـ) د حاکم، د پاچا تره او زما باباجي (وسنت رای) غوندې خپله کورنۍ نيست او نابوده کړم، د هغه غوندې به د (سيتار) سره ګډېږم.

سرما سنجيده شوه، هغې هرڅه په پراخه سينه واورېدل، چې خپل خاوند يې ډېر پرېشانه او خپه وليد ويې ويل: له صبر نه کار واخله، هرڅه په پراخه سينه و زغمه، که څومره هم بداو سخت وي، په همدې کې خير دی او همدا مو په ګټه ده، بيادې هم پلار دی د پلار په زړه کې دغه بې اعتمادي، نفرت اونا اميدي عارضي وي، څه وخت به وي بېرته به هرڅه سم شي، هغه نن سبا د خپلې پاچاهۍ د حدودو د زياتېدو په منډو کې زړه ماتی شوی غوندې دی، په زړه يې نهيلي خوره ده، ځکه خو يې مينې ته په زړه کې د اوس لپاره ځای ورک شوی دی، پرېږده چې يو ځل يې دا غوښتنې پوره شوې بيا يې مينې ته په زړه کې ځای پيدا کېږي.

اديادت: سرما! داسمه ده چې ته هوښياره او او عقلمنده يې خو بايد ووايم چې څومره د پاچاهۍ حدود زياتېږي هغومره ورسره د پلار هوس هم زياتېږي او وروسته به بيا د حدودو دلاسه ورکولو وېره ورسره وي، زه پدې پوهېږم چې څومره د پاچاهۍ حدود زياتېږي هغومره به ماته د ناقابل او نا اهل انسان ګمان کېږي.

د سر ما په پوهه کې هيڅ شک نه و، خو بيا هم دې ومنله چې په غلطه ده، کله کله په ځينو خبرو اتبار د يقين شکل غوره کوي او په زړه خورېږي، په دې وخت کې بيا عقل ماتېږي، ځکه خو سرما د اديادت خبرې ورسره ومنلې او اديادت خپلې خبرې وغزولې: کله به چې د خلکو د نفرت اومينې دګډو وډو عکس العملونو نه تنګ شوم او ددې هرڅه په زغملو کې به پاتې راغلم نو سيده به (رای ګړهـ) ته د خپل نيکه باباجي خوا ته تلم، پلار مې ماته څه خاصه پاملرنه نه کوله، خو هلته د باباجي ترڅنګ مې بيا سات تېر و، هلته به ټوله ورځ

په باغونو کې ګرځېدم، هلته به د میوو نه په ډکو باغونو کې له هرڅه بېغمه وم، د کلیوالو کورونو ته به تلم راتلم، د کلیوالو سادګي او له مینې ډکې سینې !! یوڅه وخت به د حکومت د لانجو او جګړو نه بې غمه تېرېده، هلته هېڅ ډول بندیز او پابندي نه وه، هلته به د شپې او ورځې په شاهانه لباس کې ګرځېدل ضروري نه و، هلته به مې په ارام زړه ساه واخیسته، لنډه دا، چې چېرته زما نیکه اوسېږي هلته د غم او درد نوم هم نشته، زما نیکه د خپلو سندرو په جادو کې ټوله فضاء رانغاړي، نیکه مې د هیلو په توپان کې دصبر اوسکون نه ډک ژوند کوي، که رښتیا ووایم، کله چې زه هلته لاړ شم مانه هېروي، چې زه د یشوهر ولي عهد یم، ها --- یوه بله خبره رایاده شوه، دا خبره چې ځومره هېرول غواړم نه مې هېرېږي او په زړه مې منګولې لګوي، هغه وخت مې رایادېږي، چې زه د اتلسو کلونو وم او د خپل نیکه سره یو ځای اوسېدلم، یوه ورځ نرمه هوا چلېدله، زه د یو ازاد مرغه غوندې ښکارېدم، د مرغانود اوازونو له ترنم نه مې خوند اخیست، په اسمان ورېځې خورې شوې او غوښتل یې چې وورېږي، په زړه او ماغزه یوه نااشنا غوندې مستي او نا اشنا کیف خور و، په دې تازه هوا او ښایسته ماحول کې مې (رکمني) ته وکتل.

سرما: دا خبرې پرېږده دامې څو ځل اورېدلي دي.

ادیادت: یوځل یې بیا واوره، کومې خبرې داسې هم وي چې د سړي په یادشي په اوبو کې خولې کېږي او زړه یې اور اخلي، خو د بیا بیا ویلو سره د زړه بوج سپکېږي --- په دې کې هېڅ شک نشته چې دغه خبرې زه تاته کوم د شرم نه اوبه اوبه کېږم او روح مې نارامه کېږي، خو بس د خپلې ګناه د منلو د خپل زړه د بوج کمولو لپاره غواړم بیا بیا

دا کيسې تکرار کړم --- کله چې د هغې يادونه زما له زړه نه کډه شي نو د زړه بې کراري به هم ختمه شي، بيا به نو زه پوه شم چې زما ګناه معاف شوه.

سرما: شهزاده! ته د څه شي کفاره يادوې، که تا ګناه کړې ده نو دا د ګناه، ګناه ده ستا ګناه نه ده، ځکه چې ستا په زړه زه پوهېږم چې پاک او سپېڅلی دی، ته چې د پښېمانۍ په کوم اور کې سوځې دا نو چاته نه دی مالوم؟

اديادت وويل: (رکمني) مانه درې کاله مشره وه، هغه پېغله وه او په دې دنيا کې يې هيڅوک نه و، زما د نيکه په مهربانۍ يې په رای ګړهـ کې ښه د مزې ژوند کاوه، زما نه دي په ياد، چې کومې اداېې زما کرار ولوټه او زما د زړه په درمن يې اور پورې کړ --- زما ټول هوښ او زما حواس يې رانه ولوټل او مانه يې لېونی جوړ کړ، زه يې په سترګو ړوند کړم، زه لا د جذباتو په پرېوتلو او جګېدلو کې ګېر وم چې يوې نامالومې څپې د سمندرمنځ ته ورسولم، ما غوټې خوړلې او په مخه کړی يې وم، داسې څه مې و نه ليدل چې لاس ورواچوم --- زما څلورو خواوته يواځې او يواځې تياره خوره وه او بس، په مغزو مې لېونتوب منګولې ولګولې، ټوله دنيا زما د سترګو په وړاندې د يو مجسم شکل په څېر و چورلېده، له دې نه مخکې زما د زړه کښتۍ د جذباتو په داسې ګرداب کې نه ګېره شوې او نه هم له دې نه وروسته زما د زړه حالت داسې شوی دی ---- نه پوهېږم، چې هغې ولې يواځې ديوې ورځې لپاره زما زړه بې جلبه کړ --- او زه يې په يو رپ کې له اسمان نه د ځمکې تل ته ورسولم، ما داسې کومه ګناه کړې وه، چې سزا يې په يوه شېبه زما د ژوند سپين څادر ټکې، ټکي او داغ، داغ کړ، زما د

ورځې رڼا د شپې په تیارې بدله شوه، زما د روح پسرلی دخزان یوې درنې څپې وواهه.

د ادیادت ژبه تړتړې شوه او غلی شو، سترګې یې لوېدلې ښکارېدې، رنګ یې الوتی او غونی یې زیږ شو --- سرما له لړې غوسې سره وویل: ستا دې زما په سر قسم وي، بس نور دا خبرې پرېږده.

ادیادت دڅه وخت لپاره غلی شو اوبیایې له څه مقدمې پرته خبرې پیل کړې: څه ووایم؛ خو کله چې ددې ګناه د ځپلو زور کم شو نو همدې څپو له ګردابه راوویستم او ساحل ته یې وغورځولم، چې سترګې مې وغړولې او هوش مې سر ته راغی، هرڅه راته په خپله بڼه ښکارېدل، دغه هرڅه مې یوخوب وګڼل او د زمانې په چل وپوهېدم، زه نه پوهېږم چې هغه حالت څنګه روښانه کړم، زه خپله نه پوهېږم چې له کوم ځای نه کوم ځای ته راغلی یم، دسترګو په رپ کې د غره له سره د غره لمنې ته راکولې شوم؛ نیکه مې راغلو او څه یې ( راپورته ) کړم، ما له شرمه ورسره سترګې نه شوې مخ کولی---اخر زه به نو څنګه ورسره مخ کېدم زما مخ تور شوی و، ځکه خو زه مجبور شوم او (رای ګړهـ) مې پرېښود، که رښتیا درته ووایم تر اوسه مې رای ګړهـ ته د تلو هیڅ جرئت نه دی کړی؛ خو نیکه مې!... نیکه مې له ما پرته چېرته وخت تېرولی شو، هغه مې هر وخت پوښتنه کوي هر وخت راته بلنه راکوي، خو زه چې په خپل ګرېوان کې وګورم، نو له ډېره شرمه هلته د تلوهېڅ حوصله او جرئت نه لرم، لکه څنګه چې زه نشم کولای هلته ورشم، هغه خپله زما او د (وبها) پوښتنې ته راځي، هغه له ما هېڅ کرکه نه کوي او نه رانه دا پوښتنه کوي چې زه ولې رای ګړهـ ته

نه ورځم، مونږ چې ووینې هغه ډېر خوشالېږي، ځکه خو کله، کله راځي، یواځې یوه ورځ دلته وي او بېرته لاړشي.

ادیادت مسکی شو او له مینې په ډک نظر یې سرما ته وکتل، سرما په زړه کې وویل: ګوره چې اوس به لانور څه وایي !!

سرما سر ټیټ کړ، شونډې یې مرۍ، مرۍ شوې... ادیادت د سرما مخ په دواړو لاسونو کې ونیو او په کراره یې د هغې مخ پورته کړ، ورو، ورو یې د هغې تندی په خپله اوږه کېښود، بیایې په غېږ کې ونیوله او ویې ویل: له دې نه وروسته چې څه وشول --- زه غواړم چې نور یې نو ستا له خولې واورم --- ستا له سکون نه ډکه او معصومه څېره باندې چې کله مسکا ناڅي دځښتن د تخلیق د رنګونو نه تر ټولو تېز رنګ همدا دی، زما زړه او زما ځان ته یې، زه چې په کومه څاه کې لوېدلی وم د راوتلو هېڅ هیله مې په زړه کې نه وه پاتې، که ته نه وای راپېښه شوې، زه به همداسې د تیارو په تل کې پروت وم، نه پوهېږم چې د کوم جادو په زور دې زه له دې وېرووونکې تیارې راوویستلم.

ادیادت بیا، بیا د سرما مخ ښکل کړ او خپله مینه یې وښودله، سرما هېڅ ونه ویل او په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې، ادیادت بیا خبرې پیل کړې: دومره وخت وروسته ماته یوځل بیا د ژوند تېرولو بهانه په لاس راغله، تا وویل چې زه کم عقل نه یم، ما ستا دې خبرې ته په خپل زړه کې ځای ورکړ، تانه مې زده کړل چې عقل د تورې تیارې کوڅې په څېر تور، جکړ یا لوړ او ټیټ ندی، بلکه د یوې پراخې او هوارې لارې غوندې نېغ او سیده دی، کله چې عقل پرواز کوي د اسمان نه ستوري راکوزوي، مخکې مې له خپل ځان نه کرکه وه، خپل عزت مې په خپل لاس خراب کړی و، د هېڅ کار د کولو همت او

شیمه راکې نه وه پاتې، زه کم همته، لټ او بې زړه وم، زما زړه به چې څه رښتیا راته وویل زما عقل ته به دروغ ویل او زه به یې ځورولم، ماسره چې به یې څه سلوک کاوه ما به یواځې او یواځې د زغم او صبر کلي ته پناه وړله، ما د بدو ردو ویلو کوښښ هېڅ وخت ندی کړی او اوس.... اوس نو زه د خپل ژوند په حقیقت وپوهېدم، تا زما سترګې راوغړولې، اوس زه وپوهېدم چې زه یواځې د ختمو نه جوړه شوې یوه ټوټه نه یم، بلکې یو حقیقت هم لرم، زما په عقل چې کومه پرده غوړېدلې وه هغه تا څیرې، څیرې کړه، تا زما د زړه تیاره د حقیقت په نور روښانه کړه، تا یواځې یوه رڼانه بلکې یوه نوې زندګي دې راکړې ده، اوس نو چې ماته څه ښه وښکاري همغه به کوم، زما په تا پوره باور دی، ته ماته یقین راکوې او زه لا لګیا یم په خپل ځان شک کوم، خو سرما ! یوه خبره راته وکړه --- ستا په دې نازک بدن کې دومره زور له کومه شو چې زه دې دومره قوي او ځواکمن کړم.

سرما د جذباتو تر اغېزلاندې راغله --- ادیادت یې له دواړو متو ونیو او له سینې سره یې جوخته شوه، د هغې په سترګو کې پاکې او سپېڅلې جذبې د هغې د زړه ترجمانې وې، د هغې سترګو په ډاګه وویل چې په دې دنیا کې له تا پرته زه بل هیڅوک نه لرم، یواځې... اوبس یواځې ته یې چې زما هرڅه یې.

ادیادت له ماشومتوبه د خپلوانو په نظر کې پرېوتی و، د پېغورونو او سپکاوي په تېغ یې سینه سورۍ، سورۍ وه، په خپل زړه د ملهم لګولو لپاره به یې کله، کله دنیمو شپو په چوپتیاوو کې د سرما تر څنګ د خپلو ګناهونو شمېر کاوه او د خپل زړه بوج به یې سپکاوه، لکه

د ګناهونو پاچا چې د شپې د تيرې په تخت ناست وي او دخپلو ګناهونو تيارې د شپې په تيارو وينځل او تتول غواړي.

ولي عهد شهزاده اديادت يوځل بيا په خبرو راغی: تر څو به دا هرڅه همداسې روان وي ؟ نوربه لاڅومره ورځې ګوزاره کوم، د پاچا په دربار کې خو د يو ډېر عجيب حالت او عکس العمل سره مخ يم، دا خو پر ځای پرېږده چې هلته لا مور تا سره نښتې ده او ان چې په نوکرانو دې سپکوي؛ خو زه هم هيچا ته د هېڅ خبرې کولو جرئت او حوصله نه لرم، ځکه چې زما په شونډو خو د چوپتيا ټاپه لګېدلې ده او دغه تراخه زهر همداسې غلي په سر اړوم، خو --- سرما! ستا غبرګون لا سخت دی، زه نه پوهېږم، څنګه درته ووايم، چې ت--- ته هم هرڅه په خاموشۍ و زغمه، زما په زړه کې د پښېمانۍ اور لمبې وهي، ما چې تاته هيڅ رنګ ارام اوراحت درنه شو کړلای، دا چې زما سره د واده کولو نه تاته يوائې او يوائې بې عزتي، غم او درد رسېږي --- نو که زما سره ستا واده هيڅ نه وای شوی ښه به و ه.

سرما: پران ناتهـ شهزاده اديادتهـ !!! دا تاسې څه واياست --- مالپاره بس همدا هرڅه بس دي، په خوښۍ او سکون کې به ما ستا څه خدمت کړی وای ؟ د خوښۍ په وخت کې خوبه سرما يوائې د عيش لپاره يوشي او يوه اله وی --- ددغې ټولو مصيبتونو د زغم نه وروسته خو کم نه کم دومره پوهېږم چې ته مې د خپل درد او غم د غلطولو يوه ملګرې ګڼې، تا سره د غم په غلطولو کې چې ماته کوم راحت رسېږي په همدې زما زړه اباد دی، ماسره چې کوم غم او درد دی--- يوائې د همدې خبرې، چې زه ولې نشم کولای ستا ټول غمونه په خپل سر واخلم.

ولي عهد اديادت، ترډېره د سرما مخ ته وکتل او بيا يې وويل: خوږې نجلۍ !! ماسره دځان هيڅ غم نشته، ما لپاره هره خبره د زغم وړ ده، خو ته ولې زما له امله په تکليف يې؟ څنګه چې د يوې سپېڅلې اوريښتونې ښځې لپاره مناسب وي تل دې راسره همداسې سلوک کړی دی، زما د هر درد او هر غم پرمهال زما خواخوږې يې، ماته تل تسلي راکوې او چې څومره يې امکان وي زما د غم غلطولو کوښښ کوې، خو زه سره ددې چې مېړه دې يم ومې نه شول کولای چې تا د بې عزتۍ او درد نه وساتم، تاته مې هيڅ خوشالي درنه شوه کړای او که رښتيا ووايم ستا لپاره مې هيڅ نه دي کړي --- ستا پلار د (شري پور) مشر حکمران دی، هغه هيڅکله هم د (يشوهر) د پاچا لاس لاندې اوسېدل نه خوښوي او نه هم د يشوهر پادشاهي مني، ځکه خو زما پلار د يشوهر دپاچالپاره د غوصې په اور تا سوځوي او غواړي خپله لويي وښيي، که څوک ستا خبره ونه مني او يا ستا پروا ونه کړي پاچا هيڅ ددې په کيسه کې نه دی، بلکې هغه داسې فکر کوي چې تا ته يې په خپل کور کې ځای درکړی دی همدا درته بس دی، کله چې مې دا هرڅه له زغم نه ووځي؛ نو زړه مې راته وايي چې هرڅه پرېږدم او تاسره يوځای چېرته لرې لاړشم --- او اوس خو به لا زه ترکوم ځايه تللی هم وی، خو ته يې چې ايسار کړی دې يم.

ډېره شپه تېره شوه، ډېر ستوري پرېوتل او دنيمې شپې پاخه ستوري لاپسې راښه شول، څلورو خواوو ته د چپتيا واکمني شوه، يوائې د کلا شاوخوا د پيره دارانو د پښو اواز لړ . لړ اورېدل کېږي، ټوله نړۍ د يو درانده خوب په کومي کې پرته ده او په ښار وېروونکې تياره خوره ده، په ټوله فضا يو هيبت ناک رنګ خور دی، په دې

چوپتیا کې کله، کله د ګیدړانو اوازونه تر غوږونو رارسېږي، د ادیادت د خوب دکوټې دروازه بنده وه، چې یوچا دباندې نه وټکوله، ادیادت په منډه ورغی او دروازه یې خلاصه کړه، دده خور ( وبها ) ولاړه وه، د ( وبا) له لیدلو سره ادیادت وارخطا وپوښتل: وبها--- ته --- په دې وخت --- ولې ؟ څه پېښه ده ؟

وبا وویل: داسې ښکاري چې خبره ورانه ده.

سرما او ادیادت دواړو په یوځای وپوښتل: ولې ؟ اخر څه پېښه شوې ده ؟

وبا د لېونۍ په څېر رپېدله، په لړزېدلي غږ یې څه وویل، خبرې ترې ګډې وډې کېدې خپله خبره یې پوره هم نه کړه یوائې ویې ویل:وروزجانه !! اوس به څه کېږي ؟

ادیادت وویل: وارخطا کېږه مه --- زه همدا اوس ځم.

وبا: نه ورورجانه! نه --- ته مه ځه.

ادیادت: وبا! دا ته څه وایې ؟

وبا: ستا د وتلو سره به پاچا نور هم په غوسه شي او خبره به نوره هم....

سرما: دا وخت ددې خبرو نه دی.

ادیادت ځان تیار کړ، توره یې ملاپورې وتړله او د تګ لپاره تیار شو، (وبها) له لاسه ونیو ویې ویل: ورورجانه! ته مه ځه --- کوم بل سړی ولېږه --- پته نشته چې زما زړه ولې ډېر درزېږي.

ادیادت: په دې کې د اوترۍ هیڅ خبره نشته، زما په تګ کې مه خنډ کېږه !! --- وخت کم دی.

وبا: وریندارې ! که پاچا پوه شي نو...؟

(( نو )) سرما وويل: (( نو څه به وشي --- هغه مونږ نه پخوا لا کله خوشاله دی چې بيا به خپه شي --- د هغه مونږ سره مخکې کله مينه وه چې اوس به يې مينه کمه شي --- يوائې دومره به وشي چې کومه لږه اندازه مينه يې په زړه کې پاتې ده هغه به ختمه شي او بس --- ددومره وړې خبرې نه نو څوک کله ډارېږي ))

وبها: نه ورورجانه! او که دا ځل يې کومه بله سزا وټاکله نو...

سرما اوږده سا واخيسته او ويې ويل: زما پوره باور دی چې که په دنيا کې د چا دحفاظت لپاره هيڅوک نه وي د هغه حفاظت خدای کوي ، خدايه! ته زمونږ ملګری اوسه!.

# ۲

**وزیر وپوښتل: علیحضرت پاچا! تاسې څه فکر کوئ چې هغه کار به وړ ( مناسب ) وي ؟**

**پاچا پرتاب دت: کوم یو کار ؟**

**وزیر: هغه کار چې پرون یې تاسې د کولو حکم صادر کړ.**

**پرتاب دت: ( په غوسه )، پرون ما څه حکم صادر کړی ؟**

**وزیر: هغه --- د کاکا جي په اړه.**

**پرتاب دت له غوسې نه سور واوښت او ویې ویل: د کاکا په باره کې څه ؟**

**وزیر: علیحضرت حکم ورکړی و! کله چې ( وسنت رائة ) یشوهر ته راځي، په لاره کې وي... نو...**

**پرتاب دت سترګې د وزیر په سترګو کې واچولې: نو!! څه ؟ --- خبره خو پوره که کنه !**

**وزیر: نو هغه دوه پښتانه دې لاړ شي.**

**پرتاپ دت: ښه !**

**وزیر: او هغه دې ووژني.**

**پرتاپ دت بیا وزیر ته ځیر شو: ګوره وزیر صیب ! داسې ښکاري چې ویښته دې په لمر سپین کړي دي --- ولې د ماشومانو غوندې خبرې کوې؟ دیوې پوښتنې په ځواب دومره وخت لړول څه مانا، ولې په اصلي خبره او اصلي پوښتنه شرمېږې؟ داسې ښکاري چې ماغزه دې نور کار نه کوي او د حکومت په کارونو کې نوره مرسته نشې کولای، داسې ښکاري چې د کوم بل وزیر غم باید وخورم، که څنګه ؟**

وزير: اعليحضرت پاچا زما په وړانديز فکر ونه کړ.

پرتاپ دت: ما ښه فکر پرې وکړ او ستا په مطلب پوره، پوره ورسېدم، خو پوښتنه داده چې مونږ کوم کار کول غواړو ته يې په ژبه هم نه شې راوستلی، تا بايد ددې ټول اړخونه سنجولي وای، تا بايد مخکې له مخکې ټول فکر ورته کړی وای، کله چې مونږ ديو کارد کولو په لور قدم پورته کوو، ته بايد پوه شې چې په دې کې به ارو مرو کوم راز وي او مونږ به يې په ښو او بدو اړخونو فکر کړی وي.

وزير: اعليحضرت ماخو!

پرتاپ دت: صبر!! اول زما خبرې ښه په غور واوره، کله چې مونږ د خپل تره (کاکا) د وژلو فيصله وکړه نو ستا په اړه دا نظر و چې ته به دا کار يوه ګُناه او يو جرم وګڼې ---- خو پام دا يوه ګناه نه ده، پردي زمونږ هېواد ته راغلل او د ظلم او جبر يو طوفان يې راووست، هغوی زمونږ شان او شوکت ختمول غواړي، زمونږ عزت ورځ تر ورځ دپښولاندې کېږي او مونږ ورځ تر ورځې د تباهۍ کندې ته وربرابرېږو، خو مونږ غواړو چې زمونږ هېواد دې د پرديو له لاسوهنې نه پاک وي، مونږ غواړو، چې پردي له خپل هېواده وباسو او خپل عزت او دبدبه بېرته ترلاسه کړو---- مونږ غواړو چې د بنګال ټول واړه پاچايان زمونږ د ځواک تر اغېز لاندې راشي او زمونږ ترلاس لاندې و اوسي، وزير صاحب !! ته پدې پوهېږې چې ددې هرڅه د ترلاسه کولو لپاره بايد کوم کارونه تر سره شي ؟ ددې هرڅه لپاره د يو ځانګړي ځواک اړتيا ده او ددې ځواک د تر لاسه کولو لپاره اړينه ده چې اول هغه کسان له تېغه تېر شي څوک چې د دښمن سره خواخوږي لري -- - زما تره وسنت رائة ته زه درناوی لرم، خو اوس هغه زمونږ د کورنۍ

لپاره د کُلنګ مثال لري --- هغه د پرديو غلامۍ ته غاړه ايښې ده --- د داسې خلکو سره مونږ هېڅ تړاو بايد ونه لرو، هغه اوس يو زهر جنه دانه ده او کله، کله د دانې له امله ټول لاس پرې شي، د پاچا د دربار غوښتنه! د انصاف غږ دی او ددې نه علاوه بله هيله هم شته، هغه دا چې د کورنۍ کُلنګ او د بنګال هېواد (دانه) وسنت رائة بايد ووژل شي او دا ملک او شاهي کورنۍ دې وساتل شي.

وزير: اعليحضرت پاچا! په دې خبرو کې زه تاسره هېڅ کوم اختلاف نه لرم.

پرتاب دت: ولې يې نه لرې ؟ همدا اوس هم په دې خبرو کې ته راسره اختلاف لرې ! سمه خبره ولې نه کوې ؟ ګوره وزيره! کله چې ته ما سره همغږی نه وې، نو ماسره د خبرو په وخت خپل نظر ارو مرو راته وايه! او که دومره جرئت او حوصله نه لرې بيا نو ته د وزارت لياقت هم نه لرې، که کوم شک لرې هم راته ووايه، زه به پرې دوهم ځل فکر کوم --- خو ته دا فکر کوې چې د کاکا وژنه به يوه لويه ګناه وي، ستا په زړه کې به ارومرو همدا خبره کرځي کنه ؟ خو د حکومت د اُصولو سره سم مونږ بايد دا قدم هم پورته کړو.

د شاهي کورنۍ د رعب او دبدبې د ساتلو په مسئله کې خو د وزير کوم اختلاف نه و، خو د وزير تېز نظر چې په کوم ځای لږېده د پاچا نظر نه ورته رسېده، وزير و پوهېد چې داسې د چوپ پاتې کېدو وخت نه دی دپاچا غوسه خو ورځنۍ خبره ده، خو که په اصلي خبره يې سر خلاص شي ارو مرو به خوشحاله شي او ورسره د وزير په چپ پاتې کېدو کې کېدای شول چې پاچا سره شکونه پيدا شي، وزير د همت نه

کار واخيست او په کراره يې وويل:اعليحضرت! زما مطلب دا و چې د ډيلي پاچا به ددې خبر په اورېدو خپه شي.

پاچا پرتاپ دت له ډېر ې غوسې نه سره و غونځېده او په لوړ غږ يې وويل:ولې نه، خامخا به خپه شي --- هغه به ولې نه خپه کېږي، د خپه کېدلو حق ټول لري --- د ډيلي پاچا خو څه زمونږ خدای نه دی، د هغه د خپه کېدو نه، نور ډېر شته چې ترې وډار شي او يو ددې ټولونه ته هم يې، خو ته دا فکر مه کوه چې زه دې هم ستا غوندې ډارن واوسم، ددې نه ولې بنګړي په لاس کې نه اچوې.

وزير په مسکا ځواب ورکړ: عالي حضرت! تش د غوسې نه خو دا ستا غلام نه وېرېږي؛ خو که ددې غوسې سره توره او زنځير هم ملګرى شي نو بيا خو ارو مرو ډار پکار دی --- د ډيلي د پاچا د خپه کولو لپاره خو به کم نه کم پنځوس زره تنه پوځيان پکارېږي.

پرتاپ دت ددې خبرې سم ځواب ونه شو ويلای --- له لږ ځنډ روسته يې وويل: وزيره! ته د ډيلي د پا چا نه د ډار په وجه مونږ مه بې همته کوه، زه دا خپله بې عزتي بولم.

وزير: ددې خبر په اورېدو سره به رعيت څه وايي ؟

پرتاپ دت: چې رعيت دا خبر واوري، بيا هغه سات او هغه مسلات خو ددې خبرې نه بايد رعيت خبرنه شي.

وزير:عالي حضرت! دا خبره به تر ډېره وخته هېڅکله هم پټه پاتې نه شي او ددې خبر په اورېدو سره به سمدستي ټول بنګال ستا په ضد راپاڅي، بيا هم ته چې د کوم مطلب لپاره دغه کار کوې دا مطلب به پوره نه شي --- تاسې به د رعيت له سترګوپرېوځئ او دا دې هم لرې نه وي چې شاهي دربار به د مصيبتونو سره لاس او ګرېوان شي.

پاچا پرتاپ دت: وزیرصیب! ما څوځل درته ویلي دي چې زه کوم کار کوم په پوره سوچ يې کوم، نو کله چې زه کوم کار ته ملاتړم ته مې مه بې زړه کوه اونه خو مې ته ددې لپاره وزیر کړی يې چې په هر قدم کې مې د زنځیر غوندې له پښې تاو شې.

د وزیر په شونډو د چوپتیا ټاپه ولږېده، د وزیر لپاره دوه حکمونه ول، اول دا چې کله د رايو اختلاف موجود وي ته باید خپله رایه مخکې وغځوې او دوهم دا چې د پاچا په وړاندې دداسې رایې اظهار نه دي کول پکار چې پاچا پکې بې زړه او بزدل شي، وزیر ددې دواړو حکمونو تر منځ په کش مکش کې غلی و، خو د لږ فکر نه پس يې وویل:عالیحضرت! د ډلي پاچا ------.

پرتاپ دت يې په غوصه خبره ورغوڅه کړه او ځواب يې ورکړ: بیا هم هماغه د ډیلي دپاچا خبره او بس... که د ډیلي د پاچا په ځای دې د خدای نوم اخیستی وای خاتمه به دې ښه وه --- په یاد ولره! ددې نه روسته تر څو چې زمونږ دا کار سر ته رسېږي د ډیلي د پاچا نوم زما په مخکې مه اخله او کله چې نن غرمه ددې کار د سرته رسېدو خبر راورسېد بیا دې چې څومره خوښه وي د ډیلي د پاچا ذکر وکړه، خو د خدای لپاره د اوس لپاره دې د زړه نه د ډیلي د پاچا وېره وباسه.

وزیر د څه وخت لپاره غلی و، د خبرو موضوع يې بدله کړه: علي حضرت! شاهزاده ادیادت --- وزیر لا خپله خبره نه وه پوره کړې چې پاچا پرتاپ دت يې په خبرو کې ورولوېد: د ډیلي د پاچا وېره ختمه شوه، د رعیت مخالفت ختم شو اوس غواړې چې د نجونو غوندې د یو ماشوم نه ما ووېروې ؟

وزير: جناب عالي! تا سې خو يوځل ما خپلې خبرې تـه پرېږدئ، زه ستا په کارونو کې خنډ نه پيدا کوم.

پرتاپ دت: نو ته څه ويل غواړې ؟

وزير: ښاغليه! پرون شپه شاهزاده اديادت په اس سور وتلی دی چې تر اوسه يې مالومات نشته.

پرتاپ دت په غوسه وويل: هغه چېرته تللی دی ؟

وزير: د مشرق په لور.

پرتاپ دت غاښونه سره وچيچل او ويې پوښتل: کله ؟

وزير: پرون نيمه شپه.

پرتاپ دت:د هغه مېرمن د شري پور د بزګر لور همدلته ده ؟

وزير: هوښاغليه!

پرتاپ دت: که هغه د خپل پلار کورته لاړه شي دا به ښه وي.

وزير ددې خبرې هيڅ ځواب ورنه کړ، پرتاپ دت خپلې خبرې وغځولې: زه پوهېدم چې دا هلک د ولي عهد کېدو وړتيا نه لري، هغه له ماشومتوبه د رعيت سره راشه درشه لرله، ډېر يې نا اميده کړم، ما دا نه ګڼله چې زما اولاد به داسې وکړي ---- د ز مري بچي تـه څوک د زمري خويونه نه ورزده کوي اونه هم زمری کېدل کوم تعليم تـه اړتيا لري بلکې د زمري بچی تـل زمری وي، خو ځينې زامن د خپلې نيا خويونه لري داسې ښکاري چې ده ته هم څه عادتو نه د نيا د کورنۍ نـه پاتې دي ځکه خو يې ديو بزګر د لور سره واده وکړ اوس نو دا هلک خپل شاهانه وقار نه شي ساتلی --- اوس نو دا هلک ډېر لاندې پرېوتی دی --- خدای دې وکړي چې زما وړوکی شاهزاده د حکومت قابليت

ولړي او زه ښه په ارام زړه اخيري ساه واخيستلی شم --- او وزيره!! ته زر پوښتنه وکړه چې هغه تر اوسه نه دی راغلی ؟

وزير: نه صيب !

پرتاپ دت پښه په زمکه ووهله ويې ويل: کوم سپاهي ولې ورسره نه دی تللی ؟

وزير:عالي حضرت! که په شاهزاده باندې کوم شک وی ارو مرو به ورسره تللی وای.

پرتاپ دت: خو شک ولې پيدا نه شو ؟ وزيره! ته د دې ناکام کوښښ مه کوه چې سپاهيان راته بې ګناه وښيې، سپاهيانو غفلت کړی دی ،هغه وخت په پاټک باندې څوک و هغه راولېږه ---د سپاهيانو داسې غفلت مونږ ټول د مرګ سره مخ کولای شي او ته لا زما سره مباحثه کوې؟ دا راته ښيې چې هيڅ کار د اصولو خلاف نه دی شوی ،له دې نه روسته د هر کار ذمه واري ستاده.

د لږ سات لپاره غلي شول، شېبه وروسته پرتاپ دت په نرمۍ وويل: تر اوسه هغه دوه پښتانه هم نه دي راغلي، اديادت هم نه دی راغلی ، خو خير.... ته هغه پيره داران زر راولېږه.

# ۳

اديادت په يوه خاموشه سيمه کې اس ته منډه ورکړې ده، ټول کاينات د تيارې په څادر کې نغښتي دي، لکه څنګه چې سړک پراخ او صاف دی ځکه خو په مزل کې کوم دقت او خنډ نشته، په دې خاموشۍ کې يوازې د اس د پښو غږ اورېدل کېږي، کله کله د سپيو د غپېدا اوازهم ورسره ملګری شي، د اس دپښو له اوازه تښتېدونکې ګيدړې شاته راوګوري، لار پرېږدي او منډه واخلي، د سړک دواړو غاړو ته ونې دي، په ونو کې (اور بلکې) پړ کېږي او د تيارې د کمولو ناکام کوښښ کوي، داسې بريښي لکه د اسمان ستوري چې راغورځېدلي وي او په ونو کې نښتي وي، په لاره کې کوم مسافر هم په نظر رانغی، يوازې يو خوار او ډنګر سپين ږيری د سرک په غاړه د يوې ونې لاندې د دنيا له کر کې او مطلب پرستۍ نه لرې، ډېر لرې د سويکې په خواږه خوب اوده ښکاري.

پينځه کيلو مټره لاره يې ووهله، يوې ميدانۍ ته ورسېد، ولي عهد د اس رفتار څه کم کړو، د ورځې باران ورېدلی و، چې د ځمکې د لوندوالي له امله د اس پښې په خټو کې ننوتې، په مخکينيو پښو يې زور راوړ او ځان يې له غورځېدو بچ کړ، اس ستړی شو، زړه يې تنګ شو، له خولې يې زګونه ووتل، زرزر يې سا ايستله او ټول بدن يې خوځېده، اس په خولو کې لوند دی، ګرمي بدن سوځوي خو د هوا درک نشته او منزل لالرې دی ---- ډېر لرې.

شهزاده اديادت له فصلونو، لـه ميـدانونو او لـه جړو ځنګلونـو نـه تيـر شواو يو خام سرک ته ورسېد، ولي عهد د اس غاړه و ټپوله، اس ته يې حوصله ورکړه او په کراره يې ورته وويل (( سګريو )).

اس حيران شو، غوږونه يې ځک کړل ، سر يې وښوراوه او د خپـل بادار په لور يې وکتل، وروسته پـه زوره وشنېده، سر يې پورتـه کـړ، ساه يې واخيستله او چارګام شو، اس دومره تېز شو چې اوس ولـي عهـد اديادت د سرک غاړو ته ونې نـه شوې ليـدلی، پـه اسمان کې ستوري داسې ښکارېدل لکه د اور بڅر کي چې هوا ته پورته کېږي.

درې برخې شپه تېره شوه، ولي عهد د ستړيا په غېږ کې ګرمۍ تنګ کړی و، اس يې ودراوه او د راکوځېدو سره اس په ځمکه راوغورځېد او د تل لپاره ويده شو، اديـادت يې خېټـه وټپولـه، خولـه يې ورتـه سمه کړه، پورته يې کړه: سګريو !! سګريو

خـو اس سـاه ورکـړې وه، تـر اخيـري سلګۍ يې د خپـل مالـک پـه خدمت کې وفاداري وکړه، شايد چې د خپل مالک د ارادو نه نـه و خبـر ځکه يې په نيمه لاره کې پرېښود، د ولي عد پـه زړه کې نـرۍ څړيکـه تېره شوه، سړه ساه يې واخيستله او په زوره يې مخامخ پاټک تـه ديکـه ورکـړه، د ولـي عهـد پـه بيـا بيـا ديکـو بيـاهم د پوستې محـافظ پاټـک خلاص نه کړو، مايوسه شو او د پاټک د خلاصولو په سوچ کې شو؛ خو لږ وروسته چا د کړکۍ نه سر راوويست او ويې ويل: څوک يې ؟ -- څه پېښه ده --- دومره ناوخته څه کوې --- ولې پاټک ټېله کوې ؟

ولي عهد: يو ضروري کار مې دی ، پاټک خلاص که.

ساتونکی: د پاټک د خلاصولو څـه ضـرورت دی --- کـه څـه پوښتنه لرې د همدغې ځای نه يې ووايه --- "

ولي عهد يې د خبرې ځواب ورنه کړ ، له جېبه يې دوه روپۍ راوويستې او ويې ويل: هن دا واخله --- "

ساتونکي ژر پاټک خلاص کړ او پيسې يې واخيستې.

ولي عهد وويل: وروره ! زه غواړم ستاسې پوسته وګورم --- ته تشويش مه کوه --- زه مالومول غواړم چې په پوسته کې څوک دي –"

ساتونکي شکمن ورته وکتل او زياته يې کړه: نه صيب --- دابه ونه شي "

ولي عهد: په دې کې د ډار څه خبره نشته ، ته مه وېرېږه! --- زه يو افسر يم او د دوه مجرمانو پسې راوتلى يم –"

دايې وويل او ولي عهد پوستې ته ننووت ، محافظ نور هېڅ خنډ رامنځته نه کړ ، ولي عهد د پوستې هر کونج وکوت ، نه يې وسنت رائة وليد اونه يې نوکران ، نه يې هغه دوه پښتانه وليدل چې د وسنت راى په مرګ پسې راوتلي و ، يوائې دوه ښځې وې چې په خوب کې موسکۍ ، موسکۍ کېدلې ، سره و غونځېدې ، ولي عهد ته يې وکتل او ويې ويل:اخوا شه --- څوک يې ته ؟ او ولې داسې ګورې ؟ "

ولي عهد هېڅ توجه ورته ونه کړه ، له پوستې نه راووت ، په لاره کې ودرېد او د فکر په درياب کې ډوب شو ، په زړه کې يې وويل: دا خو ښه شو چې هغه اوسه پورې دلته نه دى راغلى ----- خو ---- که هغه ختيز لورته په کومه پوسته کې تم شوى وي او پښتانه يې په پيدا کولو بريالي شوي وي نو --- همداسې نورې پوښتنې هم ورسره پيدا وې ،ولي عهد روان شو ، له دې ځايه لرې لاړو ، هلته يې وليدل چې يوڅوک په اس راروان دى ، کله چې نېږدې شو ، نو ولي عهد په يوڅه

رعب ورغږ کړ: ودرېږه! څوک یې ؟ (بیا لکه پېژندلی یې چې وې) رتن یې ؟ "

د اس والا اس ودراوه او تـرې راکښته شو، ولي عهد ته یې سترې مشې وکړه او ویې ویل: ووصیب ! زه رتن یم " --- خو تاسې --- دلته --- په نیمه شپه کې ؟؟؟

ولي عهد: دا به بیا درته ووایم خو اول ته ووایه چې زما نیکه چېرته دی؟"

رتن: هغه به په دغې پوسته کې وي --- د هغه پروګرام خو همداسې و "

ولي عهد: (په حیرانۍ) " دلته ! --- هغه خو دلته نشته –"

رتن په بې کرارۍ سره وویل: نن سهار وختي هغه د دېرشو نوکرانو سره یو ځای یشوهر ته روان شوی دی، زه د یو ضروري کار له امله روسته پاتې شوی وم او هغه راته نن ماښام په همدې پوسته کې د ملاقات ویلي و-"

ولي عهد:" عجیبه خبره ده !! --- ښه ته دې دا اس ماته راکه، زه یې لټوم، ته پیاده راپسې راځه – "

## ۴

شاړه دښته --- په يوه شاړه سيمه کې دسړک په غاړه د پيپل د يوې ګڼې ونې لاندې په يوه څپره کې وسنت رائة ناست دی او نوکران يې مالوم نه دي چې کومه خوا تللي دي، خو يو پښتون د څپرې نه لږ لرې ناست دی، د شپې ډېره برخه تېره شوې ده، هېڅ اواز نشته، چوپتيا خوره ده، ناڅاپه وسنت رائة وپوښتل: خان! ته ولې لا نه ړې ؟

پښتون: صيب ! زه به ولې تلم ؟ تاسې زمونږ د مال دولت او خپلو خپلوانو د ساتنې لپاره خپل ټول ساتونکي ولېږل او ما به ته په دې شاړه لاره کې يوائې پرېښودې او تلم به !!! دا خو هېڅ مناسب خبره نه ده --- مونږ پښتانه دومره خودغرضه خلک نه يو --- تا به اورېدلي وي چې يو چا ويلي دي (( څوک چې زما بدي غواړي هغه زما قرضدار دی، په بله دنيا کې به زه خپل قرض ترې واخلم --- او څوک چې زما ښه غواړي، د هغه زه قرضدار يم او دغه قرض يې زه هېڅکله نشم پوره کولای )).

وسنت رائة ته د پښتون خبرې خوند ورکړ، او په زړه کې يې تېر شول " سړی خو ډېر ښه سړی ښکاري "

لږ روسته يې د څپرې نه سر راوويست او ويې ويل: خان! ته خو ماته ډېر ښه سړی ښکاره شوې ؟ "

پښتون په سينه لاس کېښود او د احترام په دود يې سر وښوراوه.

وسنت رائة د ډيوې په رڼا کې د پښتون څېرې ته وکتل او زياته يې کړه: ښکاري چې ته د کومې ښې کورنۍ سړی يې.

پښتون بيا سلام وکړ او ويې ويل: مهاراج ! تاسې بيخي سم وفرمايل.

وسنت راى: اوس مو ګوزاره څنګه ده ؟

پښتون اوږده ساه واخيسته ويې ويل: صيب! پوښتنه مه کوه --- خداى دې دښمن ته هم داسې وخت نه ښيي، بې وزلۍ نه نور تنګ راغلي يو،اوس مو يوائې په بزګرۍ ګوزاره روانه ده---- مهاراج! ديو شاعر شعر راياد شو، شاعر وايي -

" اى قسمته ! تاچې کيکر ونه دومره وړه پيدا کړه دا ستا تنګدلي نه ده خو د پيپل ونه چې دې دومره لويه پيدا کړه او بيا دې هوا راوالوځوله او په ځمکه دې راوغورځوله له دې نه ستا سنګدلي ښکاري.

وسنت رائة په خوښۍ وويل: واه، واه ډېر عالي، شاعر څومره ښه ويلي دي، ستا دا دوه خبرې ډېرې ارزښتناکې دي.

دپښتون زړه باغ، باغ شو، پښتون داسې فکر وکړ چې تقدير په خپله د ګُلونو هار په لاس کې د ده مخ ته ولاړ دى، چې دغه د ګلونو هار ور په غاړه کړي، پښتون فکر وکړ چې دا بوډا خو ډېر ځوان طبعيته مالومېږي، دا بوډا خو به ډېر د غريبانو په درد خوږلى وي.

وسنت رائة د پښتون غښتلي بدن ته وکتل او په خيال کې يې پښتون نه يو تکړه پوځي جوړ کړ، اخر يې زړه صبر نه شو او پښتون ته يې وويل:ستا بدن غښتلى دى او ډېر تکړه ښکارې؛ ته په ډېرې اسانۍ په پوځ کې مقررېدلاى شې.

پښتون زر وويل: ولې نه جناب! ولې نه شي کېداى! زما پلار، نيکه او ټر نيکه ټول په توره مړه شوي دي، شاعر څومره ښه ويلي دي...

وسنت رائة په خندا وويل: د شاعر خبره پرېږده، که ته زما خبره منې، توره په لاس کې اخستلى شې او د خپل مړګ ارمان دې پوره کولى شې، خو ددې تورې به هېڅ ضرورت پېښ نه شي چې ته يې له

تیکي نه راوباسې، زه اوس بوډا شوی یم، رعیت هم په امن او خوشالۍ کې ژوند کوي، خدای دې د جګړې اړتیا نه پېښوي، یوځه وخت کېږي چې ما هم توره ایښې ده، نور نو تورې ته اړتیا څه ده؟ اوس مې د تورې پر ځای سیتار په لاس کې دی، دایې وویل او په خپل تخرګ کې نیولي سیتار په تارونو یې دوه ځل ګوتې تېرې کړې.

پښتون سر و ښوراوه او ویې ویل: جناب! تاسو بیخي سمه خبره وکړه! په توره دوښمن ماتېږي او په سندرو دښمن نه هم دوست جوړېږي.

وسنت رائة: واه خان صیب! څومره ښه (په سندرو دښمن نه هم دوست جوړېږي!) واه واه.

وست رائة همدومره وویل او غلی شو، په زړه کې یې د درد څپې خورې شوې، له یوڅه فکر او چوپتیا نه روسته یې وویل:توره چې دومره لوی شی دی د دښمن دښمني نه شي ختمولی؟.... څنګه ووایم چې توره د دښمن دښمني ختمولی شي، نه هیڅکله یې نه شي ختمولی؛ د ناروغ په وژلو څوک نه شي ویلای چې ناروغي ختمه او ناروغ، روغ شو، خو موسیقي لکه د کلیوالې پېغلې د ساده ښکلا په څېر راښکون لري او د کوثر د اوبو غوندې خوږه ده، چې د دښمن د ختمولو پرته دښمني ختمولای شي. دا خو څه وړه خبره نه ده.

بوډا وسنت رائة دومره جذبې وا خیست، چې له څپرې نه راووت او بهر کېناست؛ پښتون ته یې د نېږدې راتلو اشاره وکړه او ویې ویل: څومره د حیرانۍ خبره ده چې (په توره دښمن ماتېږي، او په موسیقۍ له دښمن نه دوست جوړېږي)

پښتون: جناب! همداسې ده او رښتیا هم چې د حیرانۍ خبره ده.

وسنت رائة: سمه ده! ته داسې وکړه چې یوځل رای ګرځه ته راشه، زه چې د یشوهر نه راستون شم تا لپاره به مناسب بندوبست وکم.
د پښتون سترګې د خوښۍ نه رډې راووتې او ویې ویل: که ته وغواړې هرڅه کولی شې، خو په زړه کې یې وخندل چې ښه مرغۍ په دام کې ګېره شوې ده او بیایې په ښکاره وویل: جناب! دا سیتار خو به غږېږي؟
وسنت رائة (هو) وویل او د ستار مضراب یې په ګوته کړ، د ستار له تارونو د زخمي زړه غوندې له دردده ډک غږ پورته شو، موسیقي په فضاء کې په نڅا شوه، په ونه کې ناستو مرغیو له وېرې وزرونه ورپول، وسنت رائة سیتار غږاوه او پښتون د (واه، واه ډېرښه! څومره ښه) شور جوړ کړی و، د سیتار نغمې د وسنت رائة جذبات وښورول، له څپرې نه لرې راغی او د سیتار په نغمه کې دومره غرق شو چې خپل شاهانه عزت او دبدبه یې بیخي هېر کړل. د سندرې د ختمېدو سره پښتون وویل: سبحان الله! څومره صاف غږ لرئ تاسو.
وسنت رائة: غږ خو مې دومره ښه نه دی، اصلي خبره داده چې په ازاده فضاء کې د هرچا غږ ښه لګېږي، ما که څه هم ډېره خواري کړې ده خو خلک زما د سندرو صفت نه کوي، که رښتیا ووایم څښتن چې څومره ناروغۍ پیدا کړي دي یونه یو علاج یې هم ورته پیدا کړی دی، همدا رنګه څومره اوازونه چې خدای پاک پیدا کړي دي یو نه یو اورېدونکی هم خامخا لري، داسې دوه کسان هم شته چې زما غږ یې خوښېږي که دا هم نه وای مابه لا پخوا دا دوکانداري پرېښې وای.

بیا لږ مُسکی شو او زیاته یې کړه: زه هم پوهېږم چې دا دوه کسان د موسیقۍ په سُر او لی نه پوهېږي چې زما غږ او زما سندرې خوښوي او ماته داد راکوي.

پښتون په ښکاره وسنت رائة ته متوجه ښکارېده خو ماغزه یې د یو ژور کش مکش سره لاس او ګرېوان ول، چې ده غوښتل له دې کش مکش نه ځان راوباسي.

وسنت رائة خپلې خبرې پسې اوږدې کړې: زه هم زما د سندرو له دوه اورېدونکو نه بغیر بې کراره یم، ډېر وخت کېږي چې نه مې دي لیدلي ځکه خو سندرې هم چندان خوند نه راکوي، که رښتیا ووایم ددې دواړو مینه مې د مقناطیس غوندې ځان ته راکاږي، هلته چې لاړ شم د موسیقۍ جشن به لمانځم او د خپل زړه باربه کموم، هلته به د خوښۍ سپوږمۍ په خپلو سپینو وړانګو زما زړه یخ کي، دا سپوږمۍ به زما د زړه تیاره خونه رڼا رڼا کي او بیا... او بیابه ددې ټولو خبرو انځورونه په خپل ذهن کې خپل کور ته راوړم او راستون به شم.

د بوډا وسنت رائة سترګې د خوښۍ او مینې له جذبو نه ډکې وځلېدې، وسنت رائة غلی شو او پښتون سره و غونځېد، لکه له درونډ خوب نه چې راپاڅېدلی وي، اول خو ځان سره وبنګېده او بیا یې په زړه کې وویل: تا خو به په سندرو خپل زړه سپک کړی وي پاتې شو د ژوند بار... دا بار به اوس زه ستا له اوږونه دتل لپاره کوز کم...... توبه توبه! نه نه داسې نه کوم، داسې کار هم څوک کوي؟ د کافر په وژلو کې خو ثواب شته خو دا ثواب ما دومره کټلی دی چې په اخرت کې مې نه پرې رانیسي، اوس داسې ښکاري چې هوا دساحل په خوا چلېږي او

د مراد کښتۍ غاړې ته رسېدونکې ده، ځکه خو غوره به دا وي چې ددې کافر د وژلو پر ځای دده نه خپل کار واخلم.

وسنت رائة خپله جذبه نوره کنټرول نه شوه کړای، د پښتون خواته ورنېږدې شو او ويې ويل: دا اوس مې چې د خپلو سندرو دوه اورېدونکي درته ياد کړل ته يې پېژنې؟

پښتون په لنډه ورته (نه) وويل، وسنت رائة پورته وکتل او په مينه يې وويل: دا په ما چې دومره ګران دي دا يو زما لمسی دی او بله مې لمسۍ ده.

وخت ډېر تېر شو د وسنت رائة نوکران و څنډېدل، په اندېښنو کې ولوېد، په فکر کې ډوب شو، لږ وروسته يې بيا زړه صبر نه شو، سيتار يې وترنګاوه او سندره يې پيل کړه؛ په همدې کې يې مخې ته يو په اس سپور ځوان ودرېد او په هيجان يې وويل: اوهو دادی اوس مې ايله زړه ولګېد... بابا جانه! په دې توره شپه کې ته چاته سندرې وايې او بيا په دې دښته کې؟

وسنت رائة حيران شو، سيتار يې د ځپرې په سر کېښود، اديادت يې له لاسه ونيو او له اس نه يې راښکته کړ، په غېږ کې يې ونيو، په تندي يې ښکل کړ (څه حال دی؟ د کور واړه غټ ټول ښه دي؟ او ته په دې وخت څه کوې؟)

اديادت: هو بابا جانه خير خيريت دی!

وسنت رائة د ډېرې خوشالۍ نه مست شو، بيا يې سيتار راواخيست او سندره يې پيل کړه، اديادت ناڅاپه پښتون ته وکتل او وارخطا شو، په زړه کې يې د خدای شکر وويست، د وسنت رائة غوږ ته يې خوله ورنيږدې کړه او ويې پوښتل: دا پښتون دلته تاسره څه کوي؟

وسنت رائة په زوره وویل: خان صیب خو ډېر ښه سړی دی او هوښیار هم دی، دده سره خو مې نن شپه ډېره ښه تېره شوه.

پښتون چې ادیادت ولید سر یې وګرځېد، اوس خپله په جال کې نښتی و، اوس څه وکړي؟

ادیادت یوه شېبه غلی و بیا یې وویل: تاسو د هغې پوستې په ځای دلته ولې تم شوي یئ ؟

پښتون اوس غلی نه شو پاتې کېدای، په یوه ساه یې شروع وکړه،جناب! و بښئ زه یوه خبره وکم؟ مونږ د عالي حضرت پاچا پرتاب دت رعیت یو، پاچا ما او زما ورور ته امر کړی دی، چې د پاچا تره وسنت رای یشوهر ته په لاره دی او مونږ یې باید ووژنو.

وسنت رائة سره و غونځېد او ویې ویل: رام رام.

ادیادت: او بیا !

پښتون: جناب! مونږ کله هم داسې کار نه کوو، پاچا نه مونږ ښښنه وغوښته؛ خو پاچا مونږ ته د مرګ دړکه وکړه، بیا نو مونږ هم بله لاره نه لرله او ددې کار لپاره راروان شو، دلته په لاره کې ده سره مخامخ شو، زما مشر ورور ددوی ټول ساتونکي له ځان سره بوتلل، دوی ته یې بهانه وکړه، چې زموږ په کلي غله راغلي دي، هغه ټول ساتونکي ځان سره کړل او د پاتې کار، بار یې زما په اوږو واچاوه، که څه هم چې د پاچا حکم دده وژل دي خو دا کار ما نه کېدونکی نه دی، دداسې نېک او زړه سوانده راجا وژل ډېره لویه ګناه ده، د پوهانو وینا ده چې وایي ( د خپل مالک په امر ټوله دنیا ورانه که خو د جنت یو کنج هم مه ورانوه) اوس نو دا غلام ستاسې په خدمت کې حاضر دی د پاچا د امر نه مونږ

سر غړونه کړې ده او په یشوهر کې نو اوس زمونږ سر ته خیر نشته که اوس تاسې دواړه زمونږ حفاظت ونه کئ مونږ بله هیڅ چاره نه لرو.

پښتون دا وویل او د ادیادت مخ ته ودرېد؟ د پښتون د خبرو په اورېدو له ډېرې حیرانۍ نه د وسنت رائة خوله وازه پاتې شوه، د بُت غوندې غلی ولاړ و، هیڅ خبره یې له خولې نه راوته، لږ وروسته یې خپل حواس سره په ځای کړل او پښتون ته یې وویل: زه تاته یو لیک درکوم، ته له دې ځایه سیده رای ګړهـ ته لاړ شه، کله چې زه د یشوهر نه راستون شم ستا د هر څه بندوبست به وکم.

ادیادت: تاسې اوس هم یشوهر ته تلل غواړئ ؟

وسنت رائة: وو! او زه باید اوس خامخا لاړ شم.

ادیادت: ولې..؟ اخر ولې ؟

وسنت رائة: پرتاب که هرڅه کوي بیا هم زما خو وراره دی، د خپلوانو په تېروتنو تل ځان ناګاره اچول پکار دي، زه اوس د مرګ او ژوند هېڅ پروا نه لرم، زما د ژوند کښتۍ نوره ساحل ته هسې هم رسېدونکې ده،بس د ژوند څو ورځې به پاتې وي، هېڅ مالومات نشته چې کله به د ژوند تار شلېږي او کله به مرم، خو زه دې یوې خبرې خپه کړی یم چې زما په مرګ به د پرتاب دواړه جهانه خراب شي، ځکه غواړم چې یو ځل ورسره وګورم او یوڅه یې وپوهوم.

په خبرو، خبرو کې د وسنت رائة سترګې له اوښکو ډکې شوې ادیادت هم په خپلو دواړو لاسونو خپلې اوښکې وچې کړې، په همدې وخت کې له شور او زوږ سره د وسنت رائة ساتونکي هم راورسېدل او په یو غږ یې وویل: مهاراج چېرته دی؟... مهاراج چېرته دی ؟...

وسنت رائة: دلته يم، چېرته به لاړشم او بيا په وېره د ساتونکو په منځ کې ودرېد او ويې ويل: خبر دار! دې پښتون ته هيڅ ونه وايئ!

اول ساتونکی: جناب نن مونږ ډېر خپه شو... نن هغه...

دوهم ساتونکی: ته غلی شه زه ټوله کيسه ورته کوم، هغه ظالم پښتون مونږ مخامخ روان کړو او خپله چپ خواته د ام په يو باغ کې...

درېم ساتونکی: اوهو... هغه د ام باغ نه و... هغه د کيکرو ځنګل و.

څلورم ساتونکی: هغه چپ خواته نه، ښي خواته پټ شو.

دوهم ساتونکی: هغه چپ خواته...

څلورم ساتونکی: بس ستا خبره يې سمه هغه چپ خواته پټ شو.

دوهم ساتونکی: هلته خو يو لښتی و.

اديادت: ښه، ښه هغه داسې ښکاري چې چپ خواته به پټ شوی وي، مخکې ووايه... بيا څه وشول؟

دوهم ساتونکی: صيب! هغه پښتون چپ خواته د امونو په يو باغ کې پټ شو او مونږ يې يو ميدان ته ورسم کړو، مونږ ورپسې پټې، ميدانونه، باغونه او لښتي ولټول خو هغه پښتون مو پيدا نه کړ او نه هلته کوم کلی و.

اول ساتونکی: دا بد ماش چې ما اول وليد زه پوه شوم.

دوهم ساتونکی: زه هم داسې شکمن غوندې شوم.

دريم ساتونکی: ما ورته له نيږدې وکتل ماته هم وران غوندې مالوم شو.

په پای کې ټولو يو يو همدا خبره وکړه چې دوی پوهېدل چې دا پښتون به مونږ سره چل کوي.

# ۵

پرتاب دت وویل: ګوره وزیر صیب! هغه دوه پښتانه تر اوسه نه دي راغلي.

وزیر په کراره ځواب ورکړ: ښاغلی پاچا! په دې کې خو زما هیڅ ګناه نشته.

پرتاب دت په قهر وویل: په دې کې د ګناه څه خبره ده؟ د پښتنو د ځنډېدلو خو به خامخا کوم علت وي، زه یوازې دومره وایم چې ستا څه خیال دی؟ هغه دوه پښتانه ولې و ځنډېدل.

وزیر: عالي حضرت! هغه ځای ډېر لرې دی زه فکر کوم هلته تګ، کار تر سره کول او بېرته راتلل وخت غواړي.

په دې ځواب د پرتاب دت د زړه تسلي ونه شوه... غوښتل یې چې دده په ذهن کې چې کومې اندېښنې ګرځي همدا خبرې باید د وزیر په ذهن کې هم وګرځي... خو وزیر د پاچا د زړه ژورو ته نه و ور ښکته شوی، پاچا یوه شېبه غلی و بیا یې ورو وویل:دیادت خو پرون شپه چېرته تللی دی کنه ؟

وزیر: عالي حضرت! دا خبر خو ما مخکې درته وړاندې کړی دی.

پرتاب دت: مخکې خو دې ویلي و... خو په خپل وخت دې راته نه و ویلي... هر وخت چې خبر راکړې ته فکر کوې چې بس زما مسئولیت اداء شو... بیا لږ غلی شو او بېرته یې خبرې پیل کړې: ادیادت خومخکې داسې نه و، داسې ښکاري چې د شري پور د بزګر لور دا وسله په لاس کې ور کړې ده.

او بیا یې وزیر ته مخ ورواړاوه:په دې اړه ستا څه خیال دی ؟

وزير: جناب! زه به په دې اړه څه ووايم، زه خو داسې فکر هم نه شم کولی.

پرتاب دت: ماته ستا د پند او نصيحت څه اړتيا شته، زه يوائې دا پوښتنه کوم چې په دې اړه ستا څه خيال دی.

وزير: تاسې به د «راني» ملکې صاحبې نه د نړور په اړه ټولې خبرې اورېدلې وي، ځکه خو تاسې خپله په دې اړه ښه فکر او فيصله کولای شئ، زه به په دې اړه څه ووايم.

په همدې وخت کې خبر راورسېد چې يو پښتون د پاچا په خدمت کې حاضرېدل غواړي! پښتون ته د حاضرېدو اجازه ورکړل شوه او پښتون د پاچا مخ ته ودرول شو.

پرتاب دت ترې و پوښتل: څه وشول؟ کار تر سره شو؟

پښتون: هو! عالي حضرت پاچا! په دومره وخت کې به ضرور کار شوی وي.

پرتاب دت: کار وشو که نه؟ ولې ته نه يې خبر چې داسې شکمن يې؟

پښتون: عالي حضرت! زه ولې نه يم خبر، کار شوی دی او په دې کې هېڅ شک نشته. رښتيا خبره خو داده چې زه هلته نه وم.

پرتاب دت: نو ته څنګه خبر شوې چې کار شوی دی؟

پښتون: ما ستاسې د امر سره سم د هغه ساتونکي ځان سره لرې راوستل، حسين خان به کار خامخا کړی وي.

پرتاب دت: او که هغه کار نه وي کړی نو بيا؟

پښتون: په ضمانت کې د غلام سر حاضر دی.

پرتاب دت: سمه ده! ته همدلته اوسه، چې ستا ورور راورسېږي ستاسې انعام به تاسو ته دروسېږي.

پښتون له هغې ځايه چپ شو او د دروازې تر څنګ د پيره دارانو د څارنې لاندې کښيناست... پرتاب دت ډېر وخت غلی و، له دې وروسته يې په کراره وزير ته وويل: ددې خبرې سره پام کوه چې رعيت ترې خبر نه شي.

وزير: تاسې سمه خبره کوئ، خو دا خبره پټه نه شي پاتې کېدای.

پرتاب دت: هغه څنګه ؟

وزير: عالي حضرت! مخکې له دې چې تاسو ددې وژلو پلان وتړئ تاسو له هغه سره خپله دښمني ښکاره کړې ده، د ادیادت د واده په مراسمو کې مو هغه ته بلنه نه وه ورکړې، چې هغه بيا نا بللی دې واده ته راغلی و، خو اوس تاسو پرته له کوم علته را وغوښته چې اوس به رعيت ددې پېښې تل ته خامخا ورسېږي او په دې پېښه کې به ستاسې په لاس لرلو خامخا و پوهېږي.

پاچا په دې خبرو نا کراره شو او په يو ځانګړي انداز يې وويل: وزير صيب ستا په مطلب خو چندان ونه رسېدم، خو داسې ښکاري چې ددې خبرې په ښکاره کېدلو به ته ډېر خوشاله شې، زما په بدنامېدلو کې ستا ګټه ده، که خبره دا نه وي نو ته ولې همېشه ددې خبرې په ښکاره کېدلو ډېر تاکيد کوې؟ چې دا خبره به ښکاره شي، حال دا چې داسې کوم ښکاره لامل هم نشته، خو که ستا اراده د ډنډورې غږولو او هرچاته ددې خبرې د رسولو وي نو هغه بيا بېله خبره ده... څنګه همدا خبره ده کنه ؟

وزير: عالي حضرت! ما وبښئ، که تاسې زما په اړه داسې فکر کوئ نو تاسې ته په دې فضاء کې رايه درکول زما کم عقل نا داني ده، تاسو ماته دغه عزت راکړی دی چې تاسو سره خپل نظر شريک کړم، اوس

نو چې زما ناقص عقل څه شی مناسب ګڼي ستاسو مخې ته یې بړدم،سمه ده... که تاسې په دې خپه کېږئ نو همدا اوس مې د وزارت له دندې لرې کړئ.

اوس نو د پرتاب دت ماغزه پرځای شول...کله به چې کوم وزیر ده ته یوه نیمه ترخه خبره ور واوروله، نو په زړه کې به خوشاله شو او د وزیر جرئت ته به حیران شو... اوس یې نو د خبرو موضوع او طرف بدل کړ او ویې ویل:زه فکر کوم که دا دواړه پښتانه ووژل شي؛ نو ددې خبرې د رسوا کېدو وېره به ختمه شي.

وزیر:عالي حضرت! د یو مرګ پټول خو له مخکې نه درد سر دی، خو د درې مرګونو پټول به بیا بیخي ناممکن شي، رعیت به که هرڅنګه وي دا خبره مالومه کړي.

پرتاب دت په کرکه او غوسه وویل: واه! چې دا خبره ده نو بیا باید مونږ له وېرې کور پرېږدو او همدا اوس وتښتو، پرېږده چې ټول رعیت خبرشي... دا یشوهر دی، رائة ګړهـ نه دی، دلته د رعیت پاچایي نه ده،دلته پاچا هرڅه او هرڅوک دی، ځکه خو زه د رعیت کومه پروا نه لرم او که په دې معامله کې چا هم څه خبره وکړه، زه به ژبه ورنه پرې کم.

وزیر په زړه کې د پاچا په سادګۍ وخندل، د وزیر په زړه کې وګرځېدل چې پاچا د رعیت له ژبې نه وېرېږي خو بیا هم خپل زړه ته ډاډ ورکوي او وایي چې زه د هیچا نه نه وېرېږم.

پرتاب دت بیا وویل: له دې هرڅه چې فارغ شو د خلکو سره یوځای به یوځل رائة ګړهـ ته تلل پکار وي، زمونږ نه پرته خو د رائة ګړهـ وارث بل څوک نشته...

دا خبرې لا د پرتاب دت په خوله وې چې په دې کې بوډا وسنت رائة په ورو، ورو قدمونو راننووت، پرتاب دت وار خطا په شا لاړ، د څېرې رنګ يې واووښت، پرتاب دت فکر وکړ، چې د پيري په شکل کې يې وسنت رائة په مخ کې ولاړ دی، په شونډو يې د چوپتيا ټاپه ولګېده،يوه خبره يې هم ونه کړه، وېره يې په زړه خوره شوې وه، خو ژر يې خپل حواس سره راټول کړل، وسنت رائة نيږدې ورغی د هغه په بدن يې لاس تېر رکړ او دعا يې ورته وکړه، په ډېر نيولي غږ يې وويل:پرتاب! مانه مه وېرېږه، زه ستا تره يم، خو که بيا دې هم په ما باور نه راځي، دا نو بيا ډېره د حيرانۍ خبره ده او بيا خو زه دادی سپين ږيری شوی يم، په ما کې دومره ځواک چېرته دی چې ستا په لار کې ازغي و شيندم، يا ستا بد ووايم.

پرتاب دت اوس په هوش راغی، خو د کومې خبرې جوړول او ځرګندول يې د وس نه وتلي ښکارېدل، اوږې يې پورته و غورځولې او هېڅ ځواب يې ورنه کړ، هغه د خپل تره پښو ته هم ورټيټ نه شو، وسنت رائة يوځل بيا په کراره وويل:پرتاپ! څه خو ووايه... که د غلطۍ نه تا داسې کوم کار کړی وي چې له امله يې ته شرم او نفرت محسوسوې نو په دې خبره هېڅ فکر مه کوه، زه به ددې خبرو هېڅ يادونه ونه کم،راشه چې په غېږ کې دې ونيسم، خدای خبر څومره وخت پس دې وينم، نور به مې څومره ستا د ليدلو انتظار کاوه.

اوس نو پرتاپ دت له ډېر ځنډ روسته د خپل تره پښو ته ورټيټ شو،سترې مشې يې ورسره وکړه، په دې کې وزير په کراره له کوټې ووت، وسنت رائة مسکی شو يوځل بيا يې د پرتاپ دت په بدن لاس تېر کړ او ويې ويل:پرتاپ! ما د خپل ژوند پسرلي لوټلي دي، اوس زما

د ژوند ورځ تېره ده او ماښام دی، خو نه پوهېږم چې ولې دا د مرګ تیاره لا نه خورېږي، وخت خو پوره شوی دی، په دې خو به خدای پاک پوهېږي، خو بیا هم په دې باور وکه چې ډېر وخت مې نه دی پاتې.

وسنت رائة یوه شېبه غلی شو، پرتاپ دت هم څه ځواب ورنه کړ، وسنت رائة بیا وویل:واوره پرتاپ! زه ټولې خبرې لنډې، لنډې درته کوم، زه پوه شوی یم چې ته غواړې ما ووژنې، که څه هم چې دا درد زما له زغم نه وتلی دی، خو بیا هم زه تا سره یوه زره دښمني هم نه لرم، زه یوائې د دوه خبرو لپاره راغلی یم، یوه خبره دا چې زما د قتل ګناه په خپل سر مه اخله، په دې به ستا دواړه جهانه خراب شي او دوهمه خبره دا چې که تا تر اوسه زما د مرګ انتظار کړی دی یوڅو ورځې نور هم صبر وکه، د څو ورځو خبره ده هسې ولې خپل اخرت خرابوې.

اوس هم پرتاپ دت غلی و، وسنت رائة ولیدل چې پرتاپ دت نه څه ځواب وایي، نه خپله پړه مني او نه یې په څېره د پښېمانۍ نښې ښکاري، نو د خبرې رُخ یې بدل کړ او ویې ویل:پرتاپ! ته یوځل رائةګړهـ ته لاړ شه، هلته تا ډېر وخت تېر کړی دی، هلته به وګورې چې ډېر بدلون راغلی دی، پوځیانو اوس توری پریښي دي او بېلچې، کودالې یې په لاسونو کې نیولي دي، پخوا به چې چېرته د پوځیانو بارکونه وو هلته اوس میلمستونونه تر سترګو کېږي.

په دې وخت کې پرتاپ دت ولیدل چې پښتون د تېښتې کوښښ کوي،دا یې چې ولیدل ځان یې ټینګ نه شو کړای، له څه وخته یې چې په زړه کې د غوسې کوم اور بل و یوځل په لمبو شو، هغه په تریخ

غږ په پيره دار غږ وکړ :خبردار! چې هغه پښتون و نه تښتي، په هغه باندې نظر ساته.

دا يې وويل په منډه له کوټې راووت او وزير ته يې غږ کړ :زه په ډېرو کارونو کې ستا بې پروايي ګورم.

وزير په کراره وويل: عالي حضرت! په دې کې خو زما څه قصور نشته

پرتاپ دت په يوڅه لوړ اواز وويل: زه تاته کومه خاصه خبره نه يادوم ،زه وايم چې په ټولو کارونو کې ستا بې پروايي له حده اوښتې ده، څو ورځې مخکې مې د يو ضروري کار لپاره يوه پُرزه درکړې وه هغه تا ورکه کړه...

له دې نه مياشت يوه نيمه مياشت مخکې داسې يوه بله پېښه هم شوې وه خو، پاچا هغه وخت وزير ته د دې پرزې په اړه څه نه و ويلي، پرتاپ دت خپلې خبرې وغځولې:يوه ورځ مې اميش رائة ته ستا دلېږلو حکم وکړ، خو تا هلته د خپل ځان پرځای بل څوک لېږلی و.

وزير: عالي حضرت!

پرتاپ دت: غلی شه! د خپلې ملامتۍ د پټولو لپاره د دلايلو ضرورت نشته، چې هرڅه دي بس ما خبر کړې؛ دا ووايه چې خبره څه ده، د حکومت په کارونو کې ستا زړه نه لګېږي؟ او که له قصده دا هرڅه کوې.

د غوسې ورېځې په بېچاره وزير ووربدې، ورپسې پرتاپ دت پيره داران راوغوښتل، د تېرې شپې پيره دارانو تنخا خو يې لا له مخکې ختمه کړې وه، خو اوس يې د بندي کولو حکم هم ورکړ، اوس نو د ناکامۍ د غوسې ورېځ د محل د ننه هم په وريدو شوه، پرتاپ دت

محل ته ننووت او ملکه يې مخاطب کړه:زه په خپل کور کې يو عجيب حالت وينم، اديادت خو پخوا داسې نه و، اوس چې هغه په خپله خوښه دی هرڅه يې چې زړه غواړي او هرڅه وخت يې چې زړه و غواړي کوي يې،هغه د رعيت طرفداري کوي او هر کار چې کوي زما د خوښې خلاف يې کوي، اخر ددې خبرو علت څه دی ؟

ملکې په وېره ځواب ورکړ: عالي حضرت! دده کومه ګناه نه ده، ددې ټولو خرابيو ريښه خو مشره نږور ده، زما زوی خو پخوا هيڅکله داسې نه و، خو کله چې يې له شريپور نه ډولۍ راوړې ده څه بل ډول شوی دی، هيڅ نه پوهېږم.

پاچا د مشرې نږور (سرما) د څارنې لاندې د نيولو حکم ورکړ او د باندې ووت؛ د پاچا له وتلو وروسته اديادت راننوت، د اديادت له رانوتلو سره ملکې د هغه څېرې ته وکتل او ويې ويل:اه! زما بچی څومره کمزوری شوی دی، تاسو خو لږ ورته وګورئ، رنګ يې تور شوی دی، د واده نه مخکې خو ستا څېره لکه د انار غوندې سره وه،زويه دا څه شی دې له ځانه جوړ کړی دی، داسې ښکاري چې دا ټولې د نګور نخرې دي، ته د هغې خبرې هيڅ کله مه منه.

سرما نېږدې غلې ولاړه وه، ملکې خپلې خبرې جاري وساتلې: هغه د ټيټې کورنۍ ده، ايا ته هغه د خپل ځان وړ بولې، د هغې عقل ناقص دی، هغه د دنيا په نشيب و فراز کله پوهېږي او بيا ته خو پوی هلک يې، هغه تاته څه مشوره درکولی شي، هغه هېڅکله هم تاته سمه مشوره نه شي درکولی؛ های های! چې عالي حضرت ولې ددې بلا سره ستا واده کړی دی.

دا یې وویل او اوښکې بهول یې شروع شول، د ادیادت په پراخه تندي د خولو څاڅکي ښکارېدل، هغه خپله وېره ښکاره کول نه غوښتل،خپلې سترګې یې بل خوا واړولې هلته یوه بوډۍ نوکره ناسته وه، هغې لاسونه پورته، پورته و غورځول او ویې ویل:د شري پور نجونې جادوګرې هم دي، دې لکه چې په شاهزاده باندې جادو کړی دی.

دا یې وویل او د ادیادت خواته راغله: شاهزاده! دې جادوګرې خامخا په تاباندې څه جادو کړی دی، ته داسې فکر مه کوه چې دایوه ساده پاده نجلۍ ده، دا د شري پور ده، د شريپور نجونې ټولې بلاګانې وي... هاۀ هاۀ ! د شاهزاده په بدن یې هېڅ هم نه دي پرېښي.

دا یې وویل او په داسې انداز یې سرما ته وکتل چې د سرما له زړه نه یې غشي وویستل، بیا یې خپلې ګوتې په سترګو په زوره زوره و مښلې، سترګې یې سرې کړې، د ملکې خواته ورغله، ملکه او په محل کې چې څومره زړې ښځې وې ټولو یوځای په ژړا پیل وکړ.

ادیادت د امیدونو نه په ډکو سترګو د سرما په لور په مینه وکتل،سرما سترګې پورته کړې او د پلولاندې یې د هغه سره سترګې و جنګېدې، دواړه پرته له څه ویلو لاړل.

یوځل بیا توري تیارې کاینات په غېږ کې ونیول، د دنیا کارونه ودرېدل، پاچا چې محل ته راغی، ملکې ورته وویل:نن ما ادیا ته ټولې خبرې وکړې او ښه مې پوه کړ، هغه اخوا دېخوا هلک نه دی، په خبره یې سر خلاصېږي، نن مې د هغه سترګې خلاصې کړې، تاسو هېڅ غم مه کوئ.

## ٦

سرما چې د وبها په څېره د غم او خپګان کومې تورې وربځې ولیدلې ډېره خپه شوه، وبها یې په غېږ کې ونیوله او ویې ویل: خورې! ولې نن داسې خپه یې؟ څه خبره ده، ما ته به هم نه وایې ؟

وبها یوه شېبه غلې وه، بیا یې په کراره، کراره وویل: ولې ته نه پوهېږې چې زه کوم غم ژاړم ؟

سرما: په دې خو پوهېږم، چې ډېر وخت وشو هغه دې نه دی لیدلی، ځکه خو دې زړه خپه دی، بس ته داسې وکه چې هغه ته یو خط ولیکه، ورته ولیکه چې دلته راشي، زه به دا خط ستا د ورور له لارې غلی هغه پورې ور ورسوم.

دا خبرې د وبا د راتلونکي ژوند د ملګرې، د چندر دیپ راجه رام چندر رائټ په اړه کېدې، د وبا سترګې روښانه شوې، سرېې ټیټ کړ او ویې ویل: که دلته څوک د هغه عزت ونه کړي؟ که د هغه راغوښتل ضروري نه وي نو نه راتګ به یې لا ښه وي، که هغه خپله هم دلته راتلل وغواړي نو زه به یې منع کم... هغه هم د یو هېواد پاچا دی، دلته چې د هغه پوره عزت نه کېږي نو ولې راشي؟ هغه نو زمونږ نه په څه کې کم دی.

دایې ویل او د وبا مرۍ وچه شوه، د شرم او غوسې له امله یې رنګ سور واوښت او له سترګو یې اوښکې و بهېدې.

سرما ژر په غېږ کې ټینګه ونیوله، اوښکې یې ور وچې کړې او ویې ویل: ښه یوه خبره راته وکه، که ته نر وی، له بلنلیک پرته به د خوسر کره تلې ؟

وبها: نه هيڅکله نه.

سرما: خو که زه نر وی په همداسې حالت کې به هم تلم

وبها: ددې خو دا مطلب نه شو چې که د هغه عزت دلته خرابېږي نو هم رادې شي، که څوک يې په قدر او عزت راو نه غواړي نو هغه به ولې راځي ؟

د همدردۍ څو لفظونه په زړه داسې اثر کولا ی شي چې انسان خپل درد په ډېرې اسانۍ بيان کړي، وبها هم همداسې وه، هغې کله د خپل زړه خبرې نه وې ښکاره کړې، خو اوس چې په جوش کې راغلې وه ټولې خبرې يې له خولې راووتې... اوس نو وبها خپلو خبرو ته متوجه شوه او په زړه کې يې وويل: ما نن خپل عزت د جوش او بې صبرۍ په څپو لاهو کړ، نن خدای خبر ما څه او څه وويل، نن زه د شرم له ټولو پولو واوښتم، دا خبرې بايد ما نه وای کړې.

ددې سوچونو سره يې په زړه کې د کرکې او درد څپې تېزې شوې،شونډې يې مرۍ، مرۍ شوې او په سترګو کې يې اوښکې ډنډ شوې، دوی يو څه شېبه غلې ناستې وې بيا وبها ورو پورته شوه، ژړا يې وزغمله، په پلو يې سترګې پاکې کړې او مسکۍ شوه، په ژړا ژړا کې خندل او په خندا خندا کې ژړل د ښځو برخه ده، سرما له څه ويلو پرته د هغې لاس ټينګ کړ، اوس يې د خبرو رُخ بدل کړ، زياته يې کړه:

وبها! اورېدلي مې دي چې نيکه دې هم راغلی دی!

وبها: رښتيا! ته رښتيا وايې!

سرما: هو! زه رښتيا وايم

وبها په ډېرې بې صبرۍ و پوښتل: کله راغلی دی؟

سرما: شايد نن سهار وختي.

وبها: خو هغه ولې تر اوسه زمونږ ليدو ته رانه غی.

وبها په دې خبره ډېره و دردېده، د خپل نيکه ليدو ته ډېره بې صبره په انتظار وه، څه وخت مخکې هم کله چې باباجي راغلی و د اديادت سره يې تر ډېره خبرې کولې چې وبها پوره درې ساعته ورته انتظار کړی و،هغې ته دا هرڅه ور په زړه شول او په زړه کې يې له خپل مينه ناک نيکه نه يوه ګيله راوټوکېده، په همدې کې وسنت رائة په مُسکا محل ته راننوت او په کراره، کراره يې يوه سندره پيل کړه، ددې سندرې مطلب دا و.

ډېر وخت وروسته ستا ليدو ته راغلی يم.... مه وېرېږه، د وېرېدو هېڅ سوال نه پيدا کېږي...خوشاله اوسې... زه به تر ډېره دلته نه يم، بس دوه ساعته وروسته به په خپله مخه ولاړ شم....خو چې ستا د سپوږمۍ په څېر روښانه څېره وګورم... مترنم اواز دې واورم... ستا خوږه مسکا وګورم... او بيا.... او بيا بېرته لاړ شم.

وبها چې سندره واورېده سريې ښکته کړ، په شونډو يې مُسکا ونښېده، له خوښۍ يې رنګ سور واوښت، له ډېرې خوشالۍ نه بې واکه شوه، سرما د وبها مخ پورته کړ او بابا جي ته يې وويل:لکه ستا د سندرې غوندې.... مُسکا رښتيا هم د وبها په شونډو خپره ده.

وسنت رائة: نه نه، زه ددې په چالاکۍ پوهېږم دا هم زما د ځنډولو يوه دسيسه ده، دا پوهېږي که دا بوډا په لړه خندا ځنډېږي نو رائحه لږ ورته وخانده، خو دا ځل ډېر ژر نه ځم، اوس چې راغلی يم نو يوڅه بدې ردې به ووايم چې زما تر بيا راتګ پورې يې په زړه کې ياد پاتې وي.

سرما په خندا وویل: دا وګوره بابا جي! وبها ماته په غوږ کې وویل چې که د یادونو د پاتې کېدلو غم درسره وي، مخکینۍ ستغې سپورې مې لا په یاد دي، د بیا بیا یادېدلو هېڅ ګټه نشته.

وسنت رائة ددې خبرې په اورېدو په زوره، زوره وخندل. وبها په وار خطایۍ وویل:نه نه بابا جي، ما هېڅ نه دي ویلي، دا خو ورندار د خپل طرف نه لګیا ده.

سرما: بابا جي! ستا هیله خو پوره شوه، تاسو غوښتل چې د وبها مُسکا وګورئ، هغه مو ولیدله، د وبها د خوږ اواز اورېدل مو غوښتل هغه مو هم واورېد، اوس نو د خپل وطن لاره ونیسئ او په مخه مو ګلونه.

وسنت رائة: دومره زر! نه نه اوس نه ځم، زما په سر کې چې څومره پاخه ویښتان دي دا به ټول یو یو پرې لټوم او ماته چې څومره سندرې یادې دي، دا به ټولې ورته اوروم، له هغې وروسته کېدای شي لاړ شم.

اوس نو وبها غلې نه شوه پاتې کېدلی، په مسکا یې وویل: باباجي! ستا په نیم سر خو بیخي ویښته نشته.

وسنت رائة په زړه کې خوشاله شو، هغه وبا ښه پېژندله، وبها ډېرې خبرې نه کولې، کله به چې څومره هم و پوښتل شوه هېڅ ځواب یې نه ورکاوه او کله به یې بیا دومره خبرې کولې، چې غلې کېدله به نه او دا به هغه وخت و چې کله به وبها د خپل نیکه وسنت رائة سره یوځای وه... وسنت رائة په خپل ګنجي سر لاس تېر کړ او د خپلې ځوانۍ وخت ور په یاد شو، خپل ویښته ورپه یاد شول او د ماضي یادونه ور په زړه شول،په افسوس یې وویل:اوس هغه وخت چېرته دی، کله چې زما تندی له ویښتو ډک و.

وبها په کراره و پوښتل: بابا جي! کله چې ستاسو په سر ويښته و، ايا هغه وخت ددې نه ښه ښکارېدې؟

د وبها په زړه کې دا شک و چې ددې نيکه، لکه څنګه چې اوس دی پخوا به هم همداسې و.

وسنت رائة ځواب ور کړ: په دې کې خو اختلاف دی، زما نږور او زما لمسيان زما ګنجی سر خوښوي، ځکه چې دوی بيخي زما تور ويښته ليدلي نه دي، او زما نيا به چې زما تور ويښته وليدل نو ډېره به خوشالېدله او دا ځکه چې زما ګنجی سر ليدل د هغې په نصيب نه شول، پاتې شول هغه څوک چا چې زما د ويښتو دواړه حالتونه ليدلي دي هغوی اوس هم فيصله نشي کولای چې په دواړو کې کوم يو ښه دی او ښه ښکاري.

وبها په مُسکا وويل: تاسې چې هرڅه وايئ، خو ستاسې د سر چې څومره ويښته توی شوي دي که ددې نه نور زيات توی شي بيا به ستاسو د څېرې دغه ښکلا پاتې نه شي.

سرما وسنت رائة ته د ځواب وخت ورنه کړ او په منځ کې يې وويل: باباجي! د تورو او سپينو لټول خو به بيا وروسته کوو، اول خو دوبها يو څه درملنه وکړئ.

و بها منډه کړه، د خپل نيکه تر څنګ کېناسته او ويې ويل: دا دی زه اوس ستا ويښته لټوم.

سرما: واه! ما خو لا هېڅ خبره هم نه ده کړې او ته په منځ کې راولوېدې.

وبها د سرما خبرې ته هېڅ توجه ونه کړه او ويې ويل: بابا جي واوره! ستا.....

سرما د وبها خبره پرې کړه: وبها! ته ما خبرې ته پرېږدې که نه، زه باباجي ته څه ویل غواړم او ته لاړې هلته کېناستې او...

وبها: بابا جي واوره! ستا په سر کې خو ددې څو ویښتو نه پرته نور هېڅ هم نشته، که دا هم وباسم نو بیخي به دې سر له ویښتو پاک شي.

وسنت رائة: که ته د نږور خبره پرې نهږدې چې زه یې واورم، همدا اوس په هغه راګ کې سندره شروع کوم هغه چې ستا ډېر بد راځي.

دایې وویل او د ستار په تارونو یې ګوتې تېرې کړې، وبها وویل: که هغه سندره دې شروع کړه همدا اوس له دې ځای نه تښتم.

وبها دومره وویل او بهر ووته، د وبها له وتلو سره سرما وویل:وبها چې په زړه د ننه کوم درد تېروي، په هغې هیڅوک هم نه پوهېږي، بلکې دې خواته خو چا هېڅ پاملرنه نه ده کړې.

( ښه دا خبره ده ؟... ) وسنت رائةدا وویل او د سرما تر څنګ کېناست.

سرما: کال تېر شو خو هېچا هم د هغه راغوښتل هېڅ مناسب ونه ګڼل

وسنت رائة: ته رښتیا وایې ؟

سرما: تاسې وواییځ، د خپل خاوند داسې بې عزتي کومه ښځه زغملی شي، وبها ډېره هوښیاره نجلۍ ده، هغه هیچا ته هم څه نه وایي، خو دا غم د یو لوی کاڼي غوندې د هغې په سینه پروت دی او ستر ګو نه یې ګنګا او جمنا جوړ شوي دي.

وسنت رائة: اُف! ښه نو دا نجلۍ غمونه خوري، ورځ او شپه ژاړي !!

سرما: همدا اوس هم ما سره ناسته وه او ژړل یې.

وسنت رائة: اه! ته یې یوځل راوغواړه، زه ورسره ګورم.

سرما وبها لاس نيولې راوسته، وسنت رائة وبها له لاسه ونيوله او په ډېر شفقت يې ترې و پوښتل: لورې! ته ولې ژاړې ؟ تا خپل درد ماسره ولې شريک نه کړ، زه به ستا د غم د لرې کولو پوره کوښښ وکم، زه همدا اوس ځم او هرڅه پرتاپ ته وايم.

وبها: بابا جي! زه ستا پښې نيسم، زما په اړه پلار جان ته هېڅ مه وايه... زه تاسو ته منت کوم چې هلته مه ځئ.

وبها همداسې پاتې شوه، وسنت رائة له هغې ځای نه پاڅېد او د باندې ووت، هغه سيده پرتاپ دت ته ورغی او ويې ويل: پرتاپ! رام چندر رائة څومره وخت کېږي چې دلته نه دی راغلی او تا په دې اړه تر اوسه هېڅ فکر نه دی کړی، ته پوهېږې، چې دا د هغه څومره لويه بې عزتي ده، د يشوهر د پاچا د زوم چې څومره عزت بايد وشي که هغومره عزت يې ونه شي نو په دې کې ستا بې عزتي هم ده.

پرتاپ دت يې په خبره کې اخوا دېخوا ونه کړل، سمدستي يې يو خط هلته ولېږه، وسنت رائة چې دا وليدل ژر ېېر دننه ننووت، د راتګ سره سم يې د ستار تارونه و ترنګول، وبها د شرم سره چې لاندې يې کتل، په کراره وپوښتل: بابا جي! تا ټولې خبرې پلار جان ته وکړې ؟

وسنت رائة وبها ته هېڅ ځواب ورنه کړ او خپله سندره يې جاري وساتله، وبها د ستار په تارونو خپل لاس کېښود، د ستار اواز يې بند کړ او په هيلمنه لهجه يې بيا وويل: پلار جان ته دې ټولې خبرې وکړې؟

په دې وخت کې د اديادت وړوکی ورور سمرادت چې اوس اته کلن شوی و، په لوبو لوبو کې راورسېد او ويې ويل: اپا! د بابا جي سره ښې خبرې رواني دي زه همدا اوس ورځم او مورته وايم.

(راشه ، راشه بچیه ) وسنت رائة دا وویل او هغه یې راونیو.

د پاچا د دربار ټولو اوسېدونکو او پـه ځـانګړي ډول د دربـار د هر کلي ډلې داسې فکر کاوه چې وسـنت رائـة او سـرما دواړو ادیـادت لمسـولی او خراب کړی دی، ځکه خو به د وسنت رائـة د راتـګ سره سم، د ټولـو غوږونه ځک شـول، سـمرادت ډېـر کوښښ وکـړ چـې د خپـل نیکـه لـه منګولو ځان خلاص کړي، خو وسنت رائة هغه ته خپـل سـتار ورکـړ او په خپله اوږه یې سور کړ، خپلې چشمې یې د هغـه پـه سـترګو کـړې او په لږ وخت کې یې داسې بلـد کـړ چـې بیـا یـې ټولـه ورځ د هغـه تـر شـا منډې وهلې، د وسنت رائة د ستار تارونه یې ورته وشکول، د هغـه لـه ګوتې یې مضراب واخیست او په خپلو ګوتو یې ګرځاوه.

## ۷

د چندردیپ پاچا رام چندر رائـة د خپل شاهانه وقار سره پـه خپل تخت ناست دی، د کوټې ښکلا او ځلا دده د عظمت ښکارندويي کوي، په خوا کې يې وزير هري شنکر ناست دی او ښي خواته يې د رمائی ډله او سپه سالار فرنائډز عينکې په سترګو ناست دی، د راجه په زړه کې به څه ګرځېدلي وي چې پـه شونډو يې مُسکا خوره شوه او وېې ويل: رمائی!

رمايی: ( خوله په خپل انداز کږه کړه ) امر کوئ صاحب!

پاچا د رمايی ورانې خولې تـه وکتل او خپلـه خنـدا يـې ونـه شـوه زغملی، په خندا خندا کې يې غبر پسې ور غلی شو، وزير هري شنکر د پاچا نه هم د خندا لوبه وګټله.

راجه بيا وپوښتل: څه نوی خبر لرې؟

رمائی بيا خوله کږه کړه او ځواب يې ورکړ: جناب! اورېدلي مې دي چې د سپه سالار کور ته غل ننوتی و.

سپه سالار چې دا واورېدل بيا وار خطا شو، هغه پوهېده چې رمائی خپلـه زړه خبـره بيـا اوږدوي او بيـا غـواړي چـې مـا پـورې ټـول و خندوي، ځکه خو سپه سالار د رمايی له خولې ډېر وېرېده.

راجه خپلې سترګې غونجې کړې او ويې پوښتل: ښه! نو بيا څه وشول؟

رمائی: جناب! خبره خو داسې وه چې درې څلور ورځې د سپه سالار صاحب کور ته د غله د تګ راتګ کيسه مې درته کوله، د سپه سالار مېرمنې ډېره خواري وکړه چې سپه سالار له خوبه راپاڅوي خو دده په

خوب کې هېڅ خندۀ رامنځته نه شو، جناب! د سویکې د خوب کیسه خو مې اورېدلې وه خو سپه سالار صیب سویکې ته هم ماته ورکړه.

پاچا او وزیر دواړه له خندا شنه او داسې تا وېدل لکه کوترې چې غومبر وهي؛ سپه سالار چې ټول په خندا ولیدل دا هم له مجبوریته موسکی شو، د څېرې رنګونه یې بدلېدل رابدلېدل چې په دې کې رمائی بیا خپلې خبرې داسې پسې و غځولې: صیب! په سبا یې ښځې د ډارن طعنه او پېغور ورکړ، نو سپه سالار په ډېرې عاجزۍ دواړه لاسونه ورته یوځای کړل او په کراره یې ورته وویل: داځل مې وبښه نن شپه به خامخا غل نیسم.

خدای خبر غل دلته کومه خزانه لیدلې وه چې بله شپه بیا هم چې څو ساعته شپه تېره شوه حاضرشو، د سپه سالار صیب مېرمن ویښه وه،په کراره یې وویل: وګوره، وګوره هغه دی غل راغی.

سپه سالار صیب په ډېر ارام انداز وویل: ښه ښه ! هېڅ خبره نه ده،څراغ روښانه دی او چې د څراغ په رڼا کې مونږ ووینې خپله به وتښتي.

ور پسې یې غل ته غږ کړ: بچیه! ته ډېر بختور یې، نن بیا و تښتېدې،څراغ لګېدلی دی او ټول کور روښانه دی، نن هم ښه په سور کې و تښتېدې، خو که سبا راغلې بیا به درسره ګورم، زه به وګورم چې بیا ته په تیاره کې څنګه تښتې.

پاچا نوره خپله خندا نه شوه کابو کولای په خندا، خندا کې یې په ډېره ګرانه وویل: ښه! او له دې وروسته بیا.

رمائی چې ولیدل پاچا لا هم په اشتیاق کې دی او په خبرو لا موړ شوی نه دی، بیا یې خپله کیسه شروع کړه:داسې ښکارېده چې هغه

غل هم زړور و، په دريمه شپه بيا هم د سپه سالار په خدمت کې حاضر شو، د سپه سالار مېرمنې بيا راپاڅاوه: پاڅه! پاڅه! چې تبا شو.
سپه سالار په غوسه وويل: ته ولې نه پاڅېږې!
مېرمن يې ځواب ورکړ: زه چې پاڅېږم څه به وکم.
سپه سالار: څراغ ولګوه، په دې تياره کې خو هېڅ هم نه ښکاري.
د سپه سالار مېرمن ډېره پرېشانه شوه، يو څه خپه هم شوه چې په دې کې سپه سالار په غوسه وويل: دا ټول ستا کارونه دي، ته چې له مخکې د غل له راتګ نه خبره وې نو مخکې دې د رڼا کوم بندوبست ولې نه کاوه، اوس زر کوه، ډيوه ولګوه او ټوپک راوړه.
په دومره وخت کې نو غل خپل کار کړی و، له لرې نه غل غبږ کړ:جناب! ډېر ستړی شوی يم، ډېره خواري مې وکړه، يو د تمباکو چلم خو راباندې و څکوه.
سپه سالار بهادر له لرې ځواب ورکړ: ته ودرېږه... د بدماش بچيه... تمباکو درباندې څکوم... خو ګوره چې زما خواته رانه شې، کنه په ټوپک به دې سر والوځوم.
غل چې چلم وڅکاوه او ستړيا يې ختمه شوه، نو په اطمينان يې وويل:جناب! که يو څراغ ولګوئ او رڼا شي نو ډېر خوند به وکي، په دې تياره کې خو هغه ځای رانه ورک شو چې زه پرې راوښتی وم.
سپه سالار ځواب ورکړ: د بدماش بچيه! وډار شوې کنه، همدغلته ودرېږه چې نيږدې رانه شې.
دا يې وويل او سپه سالار ډيوه روښانه کړه، په دې وخت کې نو غل هرڅه ورسره واخيستل او وتښتېد، سپه سالار په ډېر وياړ خپلې

مېرمنې ته وويل: سابه مې ورته په مالګه کړل... ودې ليد څنګه وړار شو او و تښتېده.

راجه او وزير دواړه په خندا ستړي شول، سپه سالار هم نرۍ نرۍ مصنوعي خندا کوله، کله چې د خندا توپان ودرېد پاچا وويل: رمائی! تاسو اورېدلي دي... زه د خسر ګنۍ کره ځم

رمائی بيا خوله کږه کړه او ويې ويل: عالي حضرت د خسر ګنۍ کره ځي، دا خو ډېره د خوشالۍ خبره ده، عالي حضرت! د خسر کره ډېر ښه ښه ځيزونه شته دی خو...

پاچا: خو ياني څه!

رمائی: بس همدا خوړل، څښل، ويده کېدل، پاڅېدل دا هرڅه ښه ځيزونه دي نو.

راجه د رمائی د زړه خبره اخوا دېخوا کړه، په مسکا يې وويل: ما اورېدلي دي چې ستا مېرمن ډېره تکړه او د کور په کارونو کې ډېره هوښياره ده.

رمائی: عالي حضرت! ددې په اړه به زه څه ووايم، زه خو له خپلې ښځې نه سخت ډارېږم، ماښام د ګيدړ غوندې کور ته ځم او سهار د تېښتې لاره رانه ورکه وي، د مهاراج دربار ته په رارسېدو راکې ساه و چلېږي.

ټولو په ګډه وخندل، د ټوکو ټکالو نه وروسته راجه رمايي ته وويل: ته به هم ماسره د خسر کره ځې او سپه سالار به هم راسره وي.

سپه سالار چې دا واورېدل نو يوڅه پرېشانه شو، هغه پوهېده چې د رمائی په لاس کې تل د ورولو لپاره غشي موجود وي، هلته به هم رنګارنګ پيغورونه او تعني راکوي او يا به ټوکې راپورې کوي، د خپل

خپګان د ظاهرولو لپاره يې يوځل خپلې عينکې له سترګو لرې کړې او بېرته يې په سترګو کړې او بيا يې د کوټې تنهۍ يوځل خلاصه کړه او بېرته يې وتړله.

رمائی: بيخي سمه ده عالي حضرت! هلته به مونږ ناستې ولرو، بلنې به وي... نو سپه سالار به په دې کې څه ووايي... سپه سالار صيب خو څه د جنګ ميدان ته نه دی روان.

راجه فکر وکړ، خبره خو ډېره د خوند ده، او د رمائی نه يې پوښتنه وکړه: سپه سالار به ولې هلته په تګ خوشاله شي؟

رمائی: عالي حضرت! دده په سترګو خو تل عينکې وي، چې د شپې هم ورسره ويده کېږي، ځکه چې که د شپې لخوا يې عينکې په سترګو نه وي نو بيا ښکلي، ښکلي خوبونه نه شي ليدلی.... دده خو جنګ ته په تګ کې هم کوم اعتراض نشته، خو يواځې په دې خبره ډارېږي چې هسې نه مرمۍ يې په عينکو ونه لګېږي او ماتې نه شي.

او بيا سپه سالار ته مخاطب شو او ويې ويل: ووايئ صيب! همداسې نه ده

سپه سالار په مرور انداز وويل: بلې همدا سې ده، همدا خبره ده.

له دې وروسته پاڅېد او پاچا ته يې عرض وکړ: عالي حضرت! که ستاسې حکم وي زه به لاړ شم.

پاچا: ته به هم مونږ سره يشوهر ته ځې، زر تيار شه او زر راشه.... او ګوره! زمونږ د سفر سامان هم تيار که، يوه غټه کشتۍ هم برابره که.

له دې وروسته وزير او سپه سالار دواړه لاړل.

راجه وويل: رمائی! اول ځل خو د خوسرګنۍ کره خلکو مونږ ښه برابر کړي وو.

رمائی: هو! ما اورېدلي دي.. چې زمونږ په عالي حضرت پورې يې لکۍ تړلې وه.

راجه چې د رمائی دا خبره واورېده، ويې خندل خو ژر يې بېرته په ځېره د غم ورېځ خوره شوه او په ځېره يې د پرېشانۍ نښې ښکاره شوې... هغه د رمائی په عادتونو پوهېده او کله چې خبر شو رمائی هم په دې خبره خبر دی نو په فکر کې ډوب شو، که دا خبره کوم بل چاته مالومه وی نو هېڅ خبره نه وه، زلمی پاچا د څه وخت لپاره په فکرونو کې ډوب شو.

رمائی بيا وويل: عالي حضرت! ماته يو نوکر وويل چې د ټولو په مخ کې ستاسو د پاچا پورې لکۍ ځنګېدله، هغه رام چندر رائة پاچا نه بلکې بيزوګی دی، خو ماته مخکې دا خبره نه وه مالومه.

ما ځواب ورکړ: تا ته به مخکې ولې دا خبره مالومه وی، مخکې خو يې لکۍ مکۍ نه وه خو اوس چې تاسو کره د واده لپاره راغلی دی، نو په کوم ملک کې چې کوم رواج وي بايد سړی په همغه رواج عمل وکي.

ددې ځواب په اورېدلو د زلمي پاچا پرېشاني يو څه کمه شوه، فکر يې وکړ، چې د رمائی په وجه به زما او زما د مشرانو نوم روښانه وي.

رام چندر رائة پاچا د عجيبه مزاج خاوند و، د لويو جنګونو چې ډېرې وينې پکې تويې شوې وې هېڅ فکر يې نه کاوه، خو داسې وړې وړې خبرې يې بيا زړه ته ننوتلې، دې خبرې هم دده په زړه کې ځاله کړې وه، چې د خسر په کور کې يې بې عزتي شوې وه، ددې خبرې ياد يې په زړه کې د غشي غوندې ننوتی و، کله به چې هم دا صحنه ورپه ياد شوه، له شرمه به اوبه اوبه شو، خو نن يو څه ډاډه شو، چې سپه سالار رمائی دا جنګ هم ګټلی دی، بيا يې هم دا خبره له زړه نه وتله، رمائی

ته یې وویل: دا ځل به خامخا فتح زمونږ وي، که دا ځل دې وګټله، زه به تاته خپله ګوتمه په انعام کې درکم.

رمائی: حضور! د ګټې څه فکر کوې، که ما ځان سره د ننه محل ته بوځې وایم په ملکې صاحبې پورې به هم ټول درته وخندوم.

راجه: دا نو څه داسې غټه خبره ده، زه به دې ځان سره دننه بوځم.

رمائی: عالي حضرت! تا ته خو هیڅ هم ګران نه دي

راجه هم پوهېده چې هلته به مېلمه وي او هرڅه کولای شي.

راجه رام چندر رائة ځان سره رام موهن لال هم راوغوښت؛ رام موهن لال د دوی د پوځ یو سردار و، دده برابر اندام او رعب لرونکې څېرې ته به زړور خلک هم حیرانېدل او سترګه به یې ترې سوځېده، دده قد اووه فوټه لوړ او ځواکمن سړی و، که څه هم چې نور یې عمر زیات تېر شوی و خو لایې په رګونو کې د ځوانۍ وینه په څپو وه، د راجه ماشومتوب دده په غېږ کې تېر شوی و، ځکه یې راجه ډېر احترام کاوه، د رام موهن لال رمائی ډېر بد راته، رمائی هم له موهن لال نه وېرېده او دده له سترګو نه به پټېده، خو رمائی بیا د موهن لال د حقارت نه له ډکو سترګو نه شو پټېدلای، کله چې رام موهن لال د راجه خواته راغی،راجه وویل:مونږ سره به پنځوس کسه یشوهر ته ځي، ته به ددې ټولو سردار وې.

رام موهن لال وویل: څه چې ستاسو امر وي... خو رمائی بابو به هم راسره ځي ؟

د رمائی په زړه یخې اوبه تلې شوې او له پښو یې ځمکه و تښتېده.

---

د یشوهر راج محل د ناوې غوندې سنګار شوی دی، د پاچا نوکران ډېر بوخت ښکاري، نن د پرتاپ دت زوم رام چندررائة یشوهر ته رائي، د هغه استقبال ته تیاری نیول کېږي، رنګارنګ خوراکي شیان تیارېږي او نور ډول، ډول سامان تیارېږي، د چندر دیپ شاهي کورنۍ د یشوهر د شاهي کورنۍ په پرتله یوه معمولي کورنۍ ده، ددې په اړه د پرتاپ دت او د ملکې تر منځ کوم اختلاف نه و، بیا هم ملکه په دې خبره خوشاله وه چې زوم یې راروان دی، ځکه خو یې سهار وختته د وبها ارایش شروع کړی و، په دې سره وبها ډېره تنګه وه، هغه خپله د یو ځنګلي ګل غوندې ښایسته نجلۍ وه او کله چې ښکلا د ځوانۍ په دره کې روانه وي نو د ارایش اړتیا نه لیدل کېږي او بیا په طبعي ډول د پېغلې لور او بوډۍ مور د ذوق په منځ کې هم لوی خلیج پروت وي، خو د ښودنې او دولت دارۍ غرور دا خبرې کله مني، د وبها خوښه وي که نه وي، په دې یې د ملکې څه، خو هغه په دې ښه پوهېدله چې د وبها ګټه په څه کې ده.

و بها فکر کاوه چې درې نري نري فیروزیي بنګړي به یې په نازکو مړوندونو کې ښه ښکاري، خو ملکې ددې سرچپه، غوښتل چې د سروزرو اته غټ غټ بنګړي او یو غټ بنګړی چې کنګن ورته وایي په دواړو لاسونو کې ور واچوي، ملکې د وبها د سنګار د کټلو لپاره د محل ټولې بوډۍ ښځې راغوښتې وې، خو که په دې هرڅه یې بسنه کړې وای هم ښه به وه، خو د ملکې غوښتنې لا پوره نه وې، وبها پوهېدله چې زما د وړې ګردې څېرې سره به پېزوان ډېر بد ښکاره شي،خو ملکې دا هم ور واچولو، د وبها پوزه یې یو خوا بل خوا واړوله او ویې کتله، په دې هم وبها غلې وه، هغې په خپلو غوښتنو پښه کېښوده،

خو ملکې چې په کوم ډول ددې ويښته جوړ کړل دا ډول د وبها هيڅ نه خوښېده، کله چې ملکې ددې ويښته جوړ کړل نور نو يې د صبر کاسه نسکوره شوه، هغې غوښتل چې صبر وکړي او په زړه يې وزغمي خو نور يې نو زغم ونه شو کړای، له هغې ځای نه پورته شوه او د سرما خوا ته لاړه، هلته يې د خپلې خوښې ويښته جوړ کړل او راغله،وبها غوښتل چې مور خبره نه شي خو د بوډۍ ملکې له دوربين لرونکو سترګو يې ځان بچ نه شو کړای، ملکې داسې فکر کاوه چې يواځې د وبها ويښتو د وبها ټوله ښکلا له منځه وړې ده او دا خبره يې هم د سرما د کينه ناک فطرت پورې تړلې ګڼله، په دې کار ملکې ته ډېره غوسه ورغله، دې کوښښ کاوه چې اوس وبها هم په سرما بدګمانه کړي، هغې ته يې وويل چې خپلې سترګې خلاصې کړي، ملکه تر ډېره په غوسه ناسته وه او کله يې چې غوسه يوڅه کمه شوه نو بېرته لاړه اود سرماويښته يې لکه د مخکې غوندې جوړ کړل.

د وبها په زړه کې يو خوا د ارمانونو جذبه وه او بل طرف يې چې خپل سينګار ته کتل چندان خوند يې نه ورکاوه، هېڅ نه پوېدله چې څه وکړي، زړه يې ډېر تنګ شو، هغې په خپل وړوکي زړه کې يشوهر ته د راتګ يو عالم خوښي پټه نه شوه کړای، د هغې له سترګو او څېرې د خوښۍ شغلې ورېدې، خو کله به يې چې په لاسونو کې غټو غټو بنګړيو ته وکتل، نو داسې به يې احساسوله چې د محل دېوالونه هم ورپورې خاندي، کله چې هغې د زړه هيلې په زړه کې بندولې، نو د څېرې رنګ به يې مړاوی شو، په دې وخت کې ولي عهد اديادت محل ته رانڼووت، کله چې اديادت د خپلې خور له شرم او خوښۍ نه ډکه څېره وليدله، زړه يې له خوشالۍ نه په نڅا شو، له مينې نه په يو ډک

نظر يې وبها تـه وکتـل او خپـل محـل تـه ننـووت، محـل تـه پـه رسېدو مسکی شو، سرمایې د شونډو په سر مچې کـړه... سـرما و پوښـتل: نـن ولې دومره خوشاله یې ؟

ادیادت: بس هسې.

په دې وخت کې وسنت رائة وبها لاس نیولې راوسته، د وبها مـخ يـې پورته کړ او ویې ویل: دا دی تاسې هم د وبها څېره وګورئ، سـرما! تـه هم راشه او وګوره.

..................................

پرتاپ دت د خپل زوم لپاره داسې خاص تیاری نـه و نیـولی، کېـدای شي نه يې غوښتل چې ډېر عزت يې وکړي او دا خبره راجـه رام چنـدر رائة هم محسوس کړه، د ده په زړه کې دا ولوېدلـه چـې لـه قصـده دلتـه دده بې عزتي کېږي، له دې نه مخکې یوځل ددوی د استقبال لپـاره تـر چکدهـ پورې د محل خلک راغلي ول، خو اوس د چکدهـ نـه هـم دېخـوا یـواځې ددوی د استقبال لپـاره وزیـر رالېږل شـوی و، کـه یـواځې وزیـر راتللی نـو ددوی سره سل دوه سـوه کسـان ولـې نـه وو راغلـي، پـه ټـول یشوهر کې زمونږ د استقبال لپاره هیڅـوک نـه و چـې دوی رالېږلـي وای او بیا کوم فیل چې دوی د راجه لپاره رالېږلی و هغه د رمـایی پـه قـول د پنډ وزیـر نـه هـم لږ وړوکی و، رمـائی وزیـر تـه وویـل: داسـې ښـکاري صیب ! لکه دا چې ستا وړوکی ورور وي.

رام چندررائة په ګیله وزیر ته وویل: په کوم فیل باندې چـې ستاسـو وزیر کیني هغه هم له دېنه غټ دی.

وزيروفرمايل: عالي حضرت! په رياست کې چې څومره فيلان و، د يو ضروري کارلپاره ډېر لرې لېږل شوي دي، اوس په يشوهر کې ددې فيل نه پرته بل هيڅ فيل نشته دی.

د راجه رام چندر رائة شک نورهم قوي شو او په يقين بدل شو، هغه فکر وکړ چې زمونږ د زليل کولو لپاره يې فيلان چرته لرې لېږلي دي، که داسې نه وي نو بل څه لامل کېدلای شي، د راجه سترګې له غوسې نه سرې واوښتې، د کمترۍ احساس يې مرۍ بنده کړه، ټنډه يې له خولو ډکه شوه او په چيغه يې وويل: له پرتاپ دت نه زه په څه کې کم يم.

رمائی زر ځواب ورکړ: په عمر او خپلوۍ کې... بل په هېڅ کې ترې کم نه يې... تا د هغه د لور سره واده کړی دی، ځکه خو....

رام موهن لال هلته ولاړ و، د رمائی خبرې په ده ښې ونه لګېدې، له نفرت نه په ډکو سترګو يې ور وکتل او په غوسه يې وويل:

رمائی! ته ډېر مخکې لاړې... د پاچا پرتاپ دت لور زمونږ ملکه ده، خبر دار که بيا دې داسې نامناسبه خبره وکړه ښه به درته نه وي.

له رام موهن لال نه رمائی مخکې هم ډارېده، اوس چې يې هغه په غوسه کې وليد، د وبها خبره يې پرېښوده، پرتاپ دت ته يې خوله واچوله او ويې ويل: عالي حضرت ته خو پوهېږې چې داسې راجه خو زمونږ د مهاراج د انا خادم هم په بده وهي.

رام چندر رائة ته د رمائی په دې بې وختې خبره خندا ورغله، په رومال يې خوله پټه کړه، خو رام موهن لال نور صبر نه شو کولای، د هر حرکت نه يې غوسه ورېدله، لاسونه يې سره يوځای کړل او ويې

ویل: عالي حضرت! ستا په مخ کې ستا د خسر دومره توهین زه نه شم زغملی، که ستا امر وي چې ددې سپي خوله همدا اوس وربنده کم.

راجه ځواب ورکړ: رام موهن! ته یوڅه صبر وکه.

رام موهن له هغې ځایه لرې شو او یوڅه لرې لاړو، رام چندر رائتة دا ورځ ډېره په تکلیف تېره کړه، هغه د وړو، وړو خبرو سپیناوی کاوه او د تصور اسونه یې ځغلول، له ډېر غور او فکر نه وروسته دې نتیجې ته ورسېد چې پرتاپ دت زمونږ د بې عزته کولو لپاره له څو ورځو راهیسې دا پلان تیار کړی دی، زړه یې ډېر ودردېد او دا فیصله یې وکړه چې د پرتاپ دت سره د لیدني په وخت به د خپل چلند نه داسې ښکاره کوي چې زه هم تانه په هېڅ کې کم نه یم.

پاچا پرتاپ دت له خپل وزیر سره په ځانګړې کوټه کې ناست و، لږ وروسته رام چندر رائتة کوټې راننوت، د پرتاپ دت مخکې یې سر ټیټ کړ او د احترام مراسم یې تر سره کړل، پرتاپ دت کومه خاصه خوښي او اشتیاق ونه ښود او په ډېر مطمئن انداز یې وویل: رائتځ! ښه خو یئ....

رام چندر رائتة هم په بې تفاوتۍ ځواب ورکړ: هو ښه یو...

له دې وروسته پرتاپ دت خپل وزیر مخاطب کړ او ویې ویل: د بهانګا ماتها د تحصیلدارۍ لپاره مو چې څوک نومولی و هغه څنګه شو؟

وزیر یو اوږد پلن کاغذ راوویست او راجه ته یې ورکړ، هغه لوستل شروع کړل، کله چې یې یوڅه ولوستل بیا یې د خپل زوم خواته وکتل او په کراره یې و پوښتل: د تېر کال په څېر خو په چندردیپ کې سږ کال توپان نه و راغلی؟.

رام چندر رائة: نه نه! څو میاشتې مخکې یوڅه اوبه پورته ختلې وې.

پرتاپ دت بیا وزیر مخاطب کړ: ددې کاغذ یو نقل ځان سره وساته.

دا یې وویل او پرتاپ دت بیا لوستل شروع کړل، کله چې یې ټول کاغذ ولوست نو رام چندر رائة ته یې وویل چې محل ته ننوځي.

رام چندر رائة په کراره، کراره پاڅېد، اوس یې هم په مغزو کې همدا خیال ګرځېده چې پرتاپ دت زمونږ نه په هېڅ کې هم لوړ نه دی او همدې خیالونو ډېر نا کراره کړی و.

## ۸

رام موهن لال په ټيټ سر حرم سرای ته راننووت، وبها ته يې لاسونه جوړه کړل او سريې ښکته کړ: مورې! زه ستا ليدو ته راغلی يم.

د رام موهن لال په ليدو د وبها زړه د خوښۍ نه ډک شو، ځکه چې دا وربانديې ډېر ګران و، په ده يې پوره باور درلود، دا به هم کله کله د چندريپ نه يشوهر ته د څه کار پسې راتلو او که هرڅنګه به کېدل د وبها ليدو ته به يې وخت ويسته، وبها هم کله چې رام موهن لال وليد هېڅ ډول پرده او زړه نازړه توب يې نه محسوساوه، د پراخې سينې او ځواکمنو متېو خاوند رام موهن لال چې به کله (مورې) وويل او سر به يې ښکته کړ نو په زړه کې به يې د مکر او ريا نه پاکه سپېڅلې مينه په څپو شوه، وبها وويل:

دومره وخت ولې نه راتلې ؟

رام موهن: واوره مورې! زوی خو هروخت ناپوهي کوي او مور يې هيرېږي، خو مور کله هم خپل اولاد نه هېروي... تا زه کله ياد کړم؟ ما همداسې فيصله کړې وه چې ترڅو مور مونږ ونه غواړي زه هلته نه ورځم... زه خو د همدې په انتظار وم چې هغه به کله ما يادوي، خو څه ووايم تا خو يوځل هم زه ياد نه کړم.

وبها وارخطا شوه، چې رښتيا هم ولې يې رام موهن نه دی راغوښتی، ددې پوښتنې سم ځواب ورسره نه و، رام موهن د وبها نه و په ياد شوی ځکه يې نه و راغوښتی؟؟؟ نه هېڅکله نه، دا خبره نه ده، د نه راغوښتلو وجهه ورته مالومه وه خو داسې الفاظ ورسره نه و چې خپله خبره روښانه کړي او هغه پرې و پوهوي.

رام موهن چې وبها په فکر او تردد کې وليده په مُسکا يې وويل: نه موري! ته ولې په سوچ کې شوې، ما ته خو دلته د راتګ وخت نه دی پيدا شوی، کنه مابه وزرونه اچولي وی او را الوتی به وی.

وبها خوشاله شوه او ويې ويل: ښه! رام موهن کېنه! هلته څه حال دی؟

رام موهن کېناست او د چندرديپ په اړه يې خبرې شروع کړې، وبها يې خبرې په غوراوېدلې، دچندرديپ د کيسو په اورېدلو به د وبها په زړه کې څه ګرځېدل، خدای خبر....د هغې جدي څېرې د ننه په زړه کې کشمکش باندې يوه پرده غوړولې وه، خو کله چې رام موهن لال د خوږ د راتلو په اړه خبرې شروع کړې او د خپل کور د ورانېدلو نقشه يې په دردناک کاغذ و کښله، د وبها نازک زړه ولړځېد، رام موهن وويل چې کور يې په اوبو کې ډوب شو او ده د سپوږمۍ په رڼا کې خپله بوډۍ مور تر مندر پورې راورسوله بيا دواړو يوځای د مندر په بام شپه تېره کړه؛ ددې کيسې په اورېدو سره د وبها غونی ځيږ شو او په بدن يې ويښته ودرېدل.

کله چې دا خبرې پای ته ورسېدې، رام موهن په ډېرې نرمۍ وويل: موري! تا ته ما ډېر ښايسته بنګړي راوړي دي، ته دا په لاس که، زه چې دا بنګړي ستا په لاس کې وګورم نو سترګې به مې پرې يخې شي.

وبها له خپلو لاسونو نه د سرو دوه، دوه بنګړي وويستل، د رام موهن بنګړي يې په لاس کړل، په خندا خندا د مور خواته لاړه او ويې ويل: وګوره موري! رام موهن ماته بنګړي راوړي دي.

ملکې وليدل، چې وبها د سرو بنګړي لرې کړي دي او د رام موهن راوړي بنګړي يې په لاس کړي دي، خو ملکه په دې خبره هېڅ خپه

نشوه، په مُسکا یې وویل: لورې! رام موهن راغلی... تا ډېر ښه وکړل چې د هغه راوړې بنګړي دې په لاس کړل، بد هم نه ښکاري.

د ملکې له خولې نه یې چې دا خبرې واورېدې د رام موهن زړه باغ باغ شو، داسې یې احساس کړه لکه کوم قیمتي انعام یې چې ترلاسه کړی وي، له دې وروسته ملکې هغه ځان سره د ننه محل ته بوتلو، هلته یې ډوډۍ وخوړه، کله چې ښه ماړه شول نو وبها ورته وویل: رام موهن! ستا په یاد دي، مخکې چې راغلي وئ یوه ښکلې سندره مو اورولې وه اوس مې بیا زړه غواړي چې همغه سندره واورم.

رام موهن وبها ته وکتل او سندره یې شروع کړه:

په سندره، سندره کې یې سترګې له اوښکو ډکې شوې، ملکې د وبها سترګو ته وکتل او هغې هم خپلې اوښکې ټینګې نه شوې کړای، د رام موهن په دې سندره ملکې ته وجیا ورپه یاد شوه.

........................................

لمر په لوېدو و، د ټولې ورځې مزل یې کړی و او ځېره یې ستړې مالومېده، د راج محل شاوخوا ښځې د رام چندر راڼة لیدو ته په حرم سرائة کې راټولې شوې وې؛ دلته وبها د عجیب حالت سره مخ وه، د خوښۍ، شرم او ډار تاثرات یې په زړه کې ګرځېدل، هغې به فکر کاوه چې خدای خبر نن به څه پېښېدونکي وي، هغې سره له پخوا نه د راجه د بې عزتۍ سودا وه، کله به یې چې داسې کوم فکر کاوه زړه به یې لړځېده، ځېره او غوږونه به یې سره شول، لاسونه او پښې به یې سستې شوې، څه مالوم چې دا د خوښۍ نښې وې، که د غم نښې.

رام چندر راڼة په حرام سراة کې ناست دی، شاوخوا یې د ښکلا سمندر په ځپو دی، ښکلا او ځواني... ځواني چې مستېږي د ښکلا ځپې

په توپان بدلوي، له څلورو خواو نه د ترنم نه ډکې خندا ګانې دي چې په شاوو ورېږي، د بلبل د سهارنۍ نغمې په څېر خوږه اوازونه، رام چندر رائة به چې یو خواته متوجه شو له بلې خوا به ښځوشور جوړ کړ، ډېر وار خطا شو، دهر شي افراط پرېشانه کوونکی وي، د ښکلا او ځوانۍ دغه مستۍ او شوخۍ هم پرېشانوونکې شوې، په دې وخت کې یوه ټیټکۍ ښځه، چې د دنیا ټول رنګونه یې لیدلي و او له هرڅه اووښتې وه، بېهوده او ستغې خبرې شروع کړې د راجه حواس یې سره و پاشل، دې ترخو خبرو ټول محفل ګډ وډ کړ، ددې کلماتو څېرې سرې او زېړې واړولې، د نفرت او غوسې څپو کور خالي کړ، اوس نو رام چندر رائة په هوش راغی او لږ ارام شو.

له دې وروسته هغه ښځه له هغې ځایه ووتله او د ملکې محل ته ورغله، ملکې د راج محل نوکرانو ته ډوډۍ ورکوله، رام موهن هم یوخواته ناست و او ډودۍ یې خوړله، هغه ښځه د ملکې خواته ورغله،هغې ته یې ښه وکتل او ویې ویل: دا د شیطانانو مورده!

رام موهن چې دا خبره واورېده په غوسه شو، یو ځل یې په ځیر هغې ښځې ته وکتل، بیا یې ډوډۍ پرېښوده او د باز غوندې پرې ور غوټه شو، له دواړو لاسونو یې ونیوله او ویې ویل: ته ډېر پرېوتې انسان یې،زه تا پېژنم.

دا یې وویل او د هغه له سر نه یې ټیکری لرې کړ، هغه و پېژانده چې دا ښځه نه بلکې رمائی دی، رام موهن له غوسې نه لړځېده، خپل څادر یې په ځمکه کېښود، رمائی یې په دواړو لاسونو ونیو او له خپل سر نه پاس یې پورته کړ: ته ډم یې! ستا مرګ لکه چې زما په لاسونو لیکل شوی و.

دا یې وویل او رمائی ته یې جټکې ورکړې، په دې کې ملکه راغله او په تېز اواز یې وویل: رام موهن! دا ته څه کوې، پرېږده!

رمائی له وېرې لړزې واخیست او په عاجزانه لهجه یې وویل: غلطي وشوه موهن بابو! تاسې اوس ما مه وژنئ.

په دې کې څلورو خوا وو ته خلک راغونډ شول، موهن شاوخوا وکتل رمائی یې په ځمکه ودراوه او په غوسه یې وویل: د ډم بچیه! تا د مړ کېدو لپاره کوم بل ځای پیدا نه کړ.

رمائی په رپېږدېدلي غږ وویل: ماته مهاراج همداسې امر کړی و.

رام موهن: څه دې وویل نمک حرامه! که بیا دې داسې خبره له خولې راوویسته خوله به دې له خاورو ډکه کم.

دا یې وویل او بیا یې له مرۍ ونیو؛ رمائی چیغې کړې، رام موهن د هغه وړوکی جسم په څادر کې بند کړ په شا یې کړ او له حرم سرای نه د باندې ووت.

په لږ وخت کې دا خبر لکه د اور خور شو، هر خوا یو د بل نه پوښتنې شروع شوې، شپه له نیمې تېره شوې وه، وړوکې شاهزاده، د ادیادت وړوکي ورور سمرادت ټوله کیسه خپل پلار پرتاپ دت ته ورسوله، چې لالا خو رمائی د مسخرو لپاره د ښځو په جامه کې محل ته راننویستی و، هلته هغه د کلي د ښځو سره خندا ګانې وکړې، ددې خبرې په اورېدو د پرتاپ دت سترګې له وینو ډکې شوې، څېره یې وېرووونکې شوه، په رګ رګ کې یې وینه وخوټېده، په سینه کې یې اور بل شو،دې اور هوش، حواس، عقل او تمیز وسېزل، د زمري غوندې وغړمبېد او امر یې وکړ: لچهمن سردار حاضر کئ!

لچهمن سردار راورسېد ، دده په لیدو یې امر وکړ: زه همدا نن شپه د رام چندر پرې کړی سر غواړم.

لچهمن د خپل ادب مراسم پرځای کړل سر یې ټیټ کړ او ویې ویل: څه چې ستاسوامروي.

وړوکي شاهزاده چې ولیدل خبره خرابه شوه، د خپل پلار پښو ته ولوېد اوویې ویل: عالي حضرت! وبښئ، تاسو داڅه کوئ، یوځل خو وبها هم راپه یاد کئ.

پرتاپ دت په غوسه وویل: همدا نن ورځ ماته د رام چندر سر پکار دی.

شاهزاده یوځل بیا ورته په پښو پرېووت او په ډېرې عاجزۍ یې وویل:مهاراج! وبښئ

پرتاپ دت یوه شېبه غلی و، بیا یې وویل: واوره لچهمن! سبا سهار وختي چې کله رام چندرائة له محل نه راووت، نو په کراره یې ووژنه، دا زما امر دی.

وړوکي شاهزاده چې څه فکر کاوه د هغې نه د ډېرې زیاتې سزا امر شوی و.

اوس نیمه شپه ده، د شپې په دې چوپتیا کې د نرمې هوا نرمې څپې او د سپوږمۍ د رڼا سېلاب، د نیم خوبۍ په حالت کې په زړه کې طوفانونه پیدا کول، د خوب د کوټې له دریڅو نه د سپوږمۍ د رڼا لیکې لکه د شیدو په څېر سپینې رانوتې وې، رام چندر رائة ویده و، وبها غلې ناسته او د فکرونو په سیند کې یې غوپې وهلې، د هیلو هجوم نوره بې خوده کړې وه، سپوږمۍ ته یې وکتل او له سترګو یې اوښکې تویې شوې، دې ته ځورېده چې امیدونه یې په سیند لاهو شول، څه چې یې غوښتل هغسې ونه شول، ددې د هیلو محل ایره شو او اوس یې

په زړه کې د اهونو د لوګيو نه پرته بل هېڅ هم نه و، له دومره ورځو راپه دېخوا يې چې د چا د راتلولپاره سترګې فرش کړې وې، اوس د هغه سره په څنګ کې ناسته ده خو خبرې ورسره نه شي کولای.

رام چندر رائة کوټې ته د راننوتو سره په ډېرغرور پالنګ ته وخوت او ويده شو، هغه د وبها سره هېڅ خبرې ونه کړې، بلکې هېڅ پام يې ورته ونه کړه، ځکه چې پرتاپ دت دده بې عزتي کړې وه او ده غوښتل چې بدله يې د هغه له لور نه واخلي، هغه دا غوښتل وښيي چې که ته د يشوهر د پاچا پرتاپ دت لور يې نو څه، د چندرديپ د پاچا رام چندر رائة په سترګو کې هېڅ ځای نه لرې، د همدې خيالونو او فکرونو سره ويده شوی و، چې تراوسه يې اړخ هم نه و بدل کړی، دده په زړه کې ټوله غوسه د وبها لپاره وه، وبها هم په همدې خيالونو کې ورکه وه، هغې به يوځل سپوږمۍ ته او بيا به يې د خپل خاوند څېرې ته کتل او زړه يې درزېده.

يو ناڅاپه رام چندر رائة رابيدار شو، هغه وليدل چې وبها غلې ناسته ده او اوښکې تويوي، دڅه وخت خوب سره يې ماغزه يوڅه ارام شوي و، په زړه کې يې د عزت او بې عزتۍ کوم ياد، نه و پاتې، له ژور خوب سره يو څه بدل شوی غوندې و، د غوسې او نفرت نښې يې په تندي کې نه ښکارېدې، د وبها په ښکلو سترګو کې يې اوښکې وليدې او نا کراره شو، د ښکلې او نازکې څېرې په ليدو يې په زړه کې د مينې او ترحم سمندر په څپو شو، په کراره يې د وبها لاس په خپل لاس کې ونيو او ويې ويل: ای! ته ژاړې...

وبها هېڅ ځواب ورنه کړ، له شرمه يې سترګې ښکته واچولې او په بستره يې سر کېښود، رام چندر يې سر په کراره راپورته کړ او په

خپله غېږ کې يې کېښود، د هغې له سترګو يې اوښکې پاکې کړې او څه ويل يې غوښتل چې په دې کې دروازه و ټکېده، رام چندر رائة په اوترۍ وپوښتل: څوک ؟

له اخوا نه ځواب راغی: زر دروازه خلاصه که !

## ۹

رام چندر رائة دروازه خلاصه کړه ويې کتل چې يو نوکر رماپتي ولاړ دی، رما پتي په کراره وويل: تاسو همدا اوس له دې ځايه د تېښتې په فکر کې شئ.

په نيمه شپه کې، هغه هم په داسې حال کې چې د راز او نياز په بستره پروت د مينې او محبت په نشه کې ډوب دی، دا خبره يې چې واورېده زړه يې ودرزېد، وينه يې وچه شوه، د څېرې رنګ يې تورواووښت، په ترتړۍ ژبه يې وپوښتل:..ولې ؟

له دې پرته يې هېڅ ونه شو ويلای.

رماپتي ځواب ورکړ: ددې خبرو وخت نه دی، تاسې همدا اوس له دې ځايه لاړ شئ.

په دې کې وبها هم له پالنګه را ښکته شوه او په کراره، کراره د باندې راغله، په نيولي غږ يې وويل: رما! څه خبره ده؟

رما پتي: دا خبره ستا د اورېدو نه ده.

وبها وپوهېده چې خامخا څه خبره شته، خپل نيکه وسنت رائة او اديادت ورته سترګو ته شول، بيا يې حواس سره راټول کړل او ويې پوښتل: ولې رما! څه چل شوی دی؟

رماپېتي د وبها د خبرې ځواب ورنه کړ او رام چندر راځة ته يې وويل: وخت مه بربادوه، ته همدا اوس غلی له دې ځايه وتښته.

د وبها په زړه کې يوه نا اشنا وېره پيدا شوه، رماپېتي يې وليد چې تګ ته اماده دی، نو په مخ کې ورته ودرېده او ويې ويل: رما! زه تاته منت کوم، رښتيا رښتيا ووايه څه خبره ده ؟...

رما پېتي په اوترو سترګو شاوخوا وکتل او ويې ويل: وبها چيغې مه وهه! زه ټوله خبره درته کوم.

رما پېتي له پېله تر پايه ټوله کيسه ورته وکړه، وبها چې ټولې خبرې واورېدې زړه يې غوښتل چې په چيغو چيغو وژاړي خو رما پېتي ورته په خوله لاس کېښود او ويې ويل: چپ، چپ! څه کوې، غلې شه چې ټول به راخبر شي.

وبها سلګيو واخيسته او هملته غلې کېناسته.

رام چندر راځة نه لاره غلطه شوه، وار خطا شو: زه اوس څه وکم؟ د تېښتې کومه لار خو راوښيه، زه خو دلته نه يم بلد.

رما پېتي ځواب ورکړ: اوس پيره داران د محل څلورو خواووته پيره کوي ،زه پوهېږم که د تېښتې کومه لاره مې پيدا کړه تاته به احوال درکم.

دايې وويل او رماپېتي ولاړ، خو وبها هغه ايسار کړ او ويې ويل: رما! ته چېرته روان يې؟ ته همدلته اوسه، که ته لاړې مونږ به بيخي يواځې شو.

رما پېتي: وبها! لېونۍ کېږه مه! که زه دلته پاتې شم تاسو لپاره به څه وکړای شم، زه شاوخوا ګورم او بېرته به منډه راځم.

وبهـا پـه ډېر تکلیف راپورتـه شـوه، بـدن یې لـه ویرې لړځېـده، پـه لړځېـدلي غـږ یې وویـل: رمـا! لږ ودرېږه، زه یوځـل د ورور کـوټې تـه ورځم.

دا یې وویل او د ادیادت د خوب کوټې خواته روانه شوه.

سپوږمۍ پیکـه ښکارېده، او ورو ورو پـه ډوبېـدو وه، څلور خـواو تـه تیارې خپل څادر غوړول غوښتل، د محل ټول خلک د سویکې غوندې پـه خواږه خوب ویده ول، هر طرف چوپتیا خوره وه، رام چندر رائـة د خپلې کوټې پـه دروازه کې ولاړ و او شاوخوا یې کتـل، د محل مخـامخ چې څـومره کړکۍ وې ټـولې بنـدې وې، د سپوږمۍ د لوېـدو سره ورو ورو د دېوالونو سیوري حـوېلۍ تـه را اوږدېـدل، لږ شېبه پـس هرڅـه د تیارې پـه غېږ کې پرېوتل او کرار، کرار ټوله فضاء پـه تیاره کې ننوتـه، رام چندر رائة د خیالونو او فکرونو پـه طوفان کې سرګردانه و، پـه زړه کې یې ډول، ډول اندېښنې تاوېدې، کله ښي خواته کله چپ خواته کله مخامخ او کله به یې شاته رډ رډ کتل، کله به یې پـه زړه کې وګرځېدل چې یو سړی پـه توره تیاره کې چې پوزه یې ترلې او سترګې یې ښکارې پـه ده باندې وار کوي، کېدای شي څوک نیږدې ورتـه ولاړ وي، کېدای شـي د کـټ لانـدې ننـوتی وي، همداسـې اندېښـنې یـې پـه زړه کـې ګرځېدې، بدن یې ولړځېد، حوصله یې نوره پـه ختمېدو وه، مرګ یې خپلو سترګو تـه نیږدې لیده، لـه بـدن نـه یې د خولو فـوارې وبهېـدې، ناڅاپه یې یوبل وهم پـه زړه منګولې خښې کړې او دا وېره ورتـه پیـدا شوه چې کېدای شي رمـا پټـې څـه کـړي وي، ځکـه خـو یې خپـل ځـای پرېښود او لږ لرې ولاړ، د هوا د یوې څپې سره پـه خـواکې یـو بـل شـوی څراغ مړ شو او دده زړه ناڅاپه، پـه درزېدا شو، اوس نو دده یقین راغـی

چې خیر یې نشته، چا څراغ ګل کړ او اوس بـه خامخـا وربانـدې ګـوزار هم وکړي، لږ اخوا لاړ او په ترټرې ژبه یې غږ کړ: رما پټي!!!

رما پټي ځواب ورکړ: دغه یم، دلته یم.

رام چندر رائة غلی شو او په دې هم نه پوهېده چې څـه بایـد ووایـي، په زړه کې وروګرځېدل که چېرته وبها دلته وی نـو دا بـه ښـه وه، ځکـه چې په رماپټي یې هم پوره اعتماد نه درلود.

وبها چې د ادیادت کوټې ته ورغله هلته بې هوشه شـوه، هغـه دومـره وېرېدلې وه چې له خولې یې هېڅ خبـره ونـه وتلـه. سـرما هغـه راپورتـه کړه او په مخ یې اوبـه وروشـیندلې، وبهـا پـه هـوش کـې راغلـه او سـرما ترې وپوښتل: څه خبره ده ؟

وبها هېڅ ونه شو ویلای، ادیادت یې په مینه پر سر لاس ورتېر رکـړ او ویې پوښتل: وبها! څه خبره ده؟

وبهـا بې کـراره شـوه د ادیـادت دواړه لاسـونه یـې ونیـول او پـه ژړا یـې وویل: ورور جانه! ماسره لاړ شه رما به ټوله خبره درته وکي.

درېواړه له هغې ځایه راپاڅېدل او د وبهـا د خـوب د کـوټې دروازې تـه راورسېدل، هلته رام چندر رائة په تیاره کې ناست و، کېـدای شـي لـه ډېرې وېرې یې د ودرېدو ځواک نه درلود، په خوا کې یې رمـا پټـي ولاړ و، ادیادت هلته په رسېدو وپوښتل: رما! څه خبره ده ؟

رما پټي ټوله کیسه ورته واوروله، ادیادت په خلاصو غوږونو هرڅـه اورېدل، هغه نورهم حیران شو، کلـه یـې چـې هرڅـه واورېـدل سترګې یې رډې راووتې، سرما ته یې وکتل او ویـې ویـل: زه همـدا اوس د پـلار خواته ورځم، زه به هغه هیڅکله داسې کارته پرې نه ږدم.

سرما: ایا هغه به ستا خبره ومني؟.... که تاسې مناسب ګڼئ یوځل بابا جي ورولېږئ کېدای شي د هغه په ورتګ یوڅه وشي.
ادیادت: سمه ده همدا به ښه وي.
وسنت رائة په ژور خوب ویده و، کله چې یې راپاڅاوه اوادیادت یې ولید چې مخامخ ورته ولاړ دی، نو فکر یې وکړ چې سهار شوی دی غوښتل یې خپله د سهار سندره شروع کړي، ادیادت نور هم نیږدې ورغی او ویې ویل: بابا جي! په عجیب مصیبت کې ګیر یو.
دوسنت رائة سندره په خوله کې وچه شوه، له کټ نه راکوز شو او په وېره یې وپوښتل: اوهو! څه خبره ده، بیا کوم مصیبت راولوېد.
ادیادت ټوله کیسه ورته وکړه، وسنت رائة بېرته په خپل کټ کېناست، ادیادت ته یې وکتل سریې وښوراوه او ویې ویل:
نه، نه داسې هم تو خدای کېدای شي، دا بیخي امکان نه لري.
ادیادت: اوس وخت ډېر کم دی، یوه شېبه هم مونږ ته ډېر قیمت لري، تاسې همدا اوس پلار جان ته ورشئ.
وسنت رائة راپاڅېد او په کراره روان شو، په تګ کې یې هم څوځل وویل: داسې هم تو خدای کېدای شي... داسې هم کله شوي دي.
پرتاپ دت تر اوسه خپل خوب ځای ته نه و تللی، دده مارغه خیال یو بل ځای پرواز کاوه، یوځل فکر ورغی چې لچهن سردار راوغواړه او خپل حکم بېرته واخله، خو د سترګو په رَپ کې دا اراده بدله شوه،ځکه چې دا خبره دده د اصولو خلاف وه، پرتاپ دت په هېڅ حالت کې هم دوه ډوله امرونه، نه شي صادرولای، په ژبه یو امر کول او په هماغه ژبه خپل امر بېرته اخستل دده له شان سره مناسبه خبره نه وه، یانې ددې مانا دا چې دا بیا د راجه امر نه د ماشومانو لوبې

شوې... خو وبها!!! وبها به کونډه شي، د وبها زندګي به برباد شي... خو په دې برخه کې زه څه کولای شم، چې کېږي کېږي به، که رام چندر رائة په خپله ځان اور ته غورځوي او ځان وژني نو بيا به هم وبها کونډه شي، اوس هغه زما د قهر په اور کې ځان غورځولی دی، چې اوس بايد ددې نتيجه وګوري او وسوځي، د وبها په تقدير کې به همدا ليکلي وي، په دې کې زما څه ملامتي... او چې کله به يې ددې پېښې په اړه فکر وکړ نو وينه به يې و خوټېده، په زړه او ماغزه کې به يې اور بل شو، له سترګو به يې بڅرکي ووړېدل او بيا به يې ټولې خبرې له ذهن نه ووتې، يوه خبره به يې په زړه کې پاتې شوه چې کله به دا شپه تېرېږي.

پرتاپ دت په همدې خيالونو کې و چې بوډا وسنت رائة په خپلو خيالونو کې ډوب دده کوټې ته راننووت، د پرتاپ دت مخې ته ورغی له دواړو متو يې ونيو او ويې ويل: دا زه څه اورم ؟

د پرتاپ دت غوسه د اور غورځوونکي غره غوندې و خوټېده او په قهر يې وويل: څه دې اورېدلي دي.

وسنت رائة: هغه د دوه ورځو هلک په دې خبرو څه پوهېږي، مګر ته خو ماشوم نه يې، ستا دومره غوسه ښه نه ده.

پرتاپ دت: څه دې ووې... هغه تر اوسه هلک دی!! هغه خو د بوډاګانو نه غوږونه پرې کوي، ولې هغه په دې هم نه پوهېږي چې اور ته په لاس نېږدې کولو لاس سوځېږي، هغه دومره تميز نه لري چې د شاهي کورنۍ وقار وپېژني، هغه له ځان سره يو جاهل راوستی دی او د ښځې په جامه کې يې محل ته ننويستی دی او بيا يې په دې هم بسنه نه ده کړې او د ملکې پسې يې هم مسخرې کړې دي.

دایې وویل اوله ډېرې غوسې یې بدن ورپېد، له دې اخوا یې نورڅه ونه شو ویلای، یوه شېبه غلی و او بیا یې خبرې پیل کړې: څوک چې د شاهي کورنۍ سره د ټوکو کولو جرئت کولای شي او په خپل عقل هم غره وي هغه باید سنګینه سزا ووینې.

څومره چې یې غوسه زیاتېده، همدومره یې اراده پخېده او د قهر اور یې لا لمبې کولې، وسنت رائة په کراره وویل: هغه ناپوهه دی بد او ښه لا نه پېژني.

پرتاپ دت یو څه ارام شو او په نرمه یې وویل: ګوره کاکا جي! دا چې د یشوهر د شاهي کورنۍ عزت او بې عزتي په څه کې ده که په دې خبره ستاسې سر خلاصېدای، نو په دې تېر عمر به مو د ډیلي پاچا ته سر نه ټیټاوه او هر ځای کې به دې د هغه په صفتونو خوله نه ستړې کوله، په دې کار سره تاسې زما عزت له خاورو سره خاورې کړی دی، زه دې په دې کار سره سر ټیټی کړی یم، ته د ډهلي د پاچا د پښو خاورې په خپل تندي پورې مږې... ما هیله درلوده چې د مسلمانانو په پښو کې ستا پروت سر د تل لپاره په خاورو کې پټ کم، خو څښتن و نه غوښتل او اوس هم ته نه پوهېږې چې د شاهي کورنۍ څومره سپکاوی شوی دی، ته بیا هم راغلی یې او د سپکاوي کوونکي د ښښلو خیرات غواړې.

وسنت رائة: پرتاپ! زه پوه شوم، تاچې یوځل توره پورته کړه نو دا خو به خامخا د چا سر پرې کوي، زه چې درنه بچ شوم اوس باید یو بل څوک ووژل شي، سمه ده! که ستا په زړه کې رحم نشته او ستا ورې غوسه خامخا یو پرې کړی سر غواړي، نو زما سر ستا په خدمت کې دی... ستا د تره سر حاضر دی، دا سر پرې که او خپله غوسه دې

همدا اوس سره که... راکه دا خنجر... وخت مه ضایع کوه، زما د ژوند ورځ هسې هم تېره ده... د اجل پرښتې به هسې هم زما د مرګ سامان برابر کړی وي، خو دا په یاد وساته چې وبها زمونږ نازولې لورده، که ستا دا امر د تندر غوندې د هغې په سر وغورځېږي هغه به ژوندۍ پاتې نه شي، د هغې له سترګو چې کله اوښکې بهېږي نو له زړه به یې وینې وڅاڅي.

په خبرو خبرو کې د وسنت رائة ستونی و پړسېد، یوه ژوره ساه یې وویسته او اوښکې یې په لمن پاکې کړې، په نا کراره بڼه یې وویل: پرتاپ! ما همدا اوس ووژنه، زما ژوند هېڅ ګټه نه لري، د وبها تباهي زه په خپلو سترګو نه شم لیدلی، د هغې په سترګو کې د اوښکو له لیدلو نه مخکې ما ووژنه.

پرتاپ دت غلی ولاړ و، کله چې وسنت رائة خبرې خلاصې کړې، نو کرار، کرار پاڅېد او د باندې ووت، اوس یې په دې خبره فکر کاوه چې ټول خبر شوي دي، خو بیا یې هم په اراده کې بدلون رانه غی،هغه پوهېده چې د وبها ژوند به د اوښکو او اهونو سېلاب وګرځي، خو بیا هم لکه د غره کلک و، پخپله لاړو او پیره دارانو ته یې امر وکړ چې د شاهي محل نهر په غټو، غټو لرګیو بند کړي، ځکه چې په دې نهر کې د رام چندر رائة کښتۍ ولاړه وه، له دې هاخوا یې په پیره دارانو ددې خبرې تاکید هم وکړ چې نن شپه باید د محل نه هیڅوک هم دباندې ونه وځي.

دغه ناول د گودر خپرندویې ټولنې لخوا چاپ شوی دی چې په جلال اباد کې یې د گودر کتاب پلورنځي او په نور هېواد کې یې له کتاب پلورنځیو ترلاسه کولای شئ. الهام